# ادبي بحثونه

لیکونکی

ګل پاچا ((الفت))

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# ادبی بحثونه

پښتو ټولنه په ډېره خوښۍ‌غواړي چه د پښتو يو قيمتي ادبي اثر د خپرونې ډگر ته راوباسي.

دا كتاب ((ادبي بحثونه)) نوميږي او د پښتو د پياوړی او قوي اديب ښاغلی گل پا چا الفت اثر دی. ښاغلی گل پا چا الفت د پښتو د ادب په آسمان كښې د يو داسې ځلاند ستوری مثال لري چه هيچاته يې د ښودلو او ستايلو حاجت نشته. دی تقريباً له شپاړسو كالو راهيسې د پښتو ژبې د ادبي او علمي خدمت په لار كښې لگيادی كار كوي او تر اوسه يې ډېر منظوم او منثور آثار ليكلي دي چه ځينې چاپ شويدي او ځينې نا چاپ پراته دي. په چاپ شوو كتابونو كښې لغوي څېړنه ، بله ډيوه ، پښتو سندرې د ده منثور كتابونه او عالي افكار ، د آزادۍ پيغام يې منظوم كتابونه دي.

دا دی اوس د ده يو بل منثور اثر هم د كابل په مجله كښې او هم ځانله چاپيږي او پدې صورت د پښتو آثارو په نړی كښې يو بل غوره كتاب زياتيږي.

او ښايي چه پښتانه ئې له لوستلو څخه فايده واخلي او د دغسې آثارو قدر او احترام وكړي.

(صديق الله رشتين د پښتو ټولنې لوي مدير)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ټولنې
د ادبياتو د څانګې له
خوا خپور شو

دې کتاب په۱۳۲۴ کښې
د خوشحال خان جايزه
اخيستې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| سر ليك: | مخ: |
|---|---|
| ادب | ۱ |
| د ادب د كلمي اصل | ۱ |
| د ادب د كلمي تاريخ | ۱ـ۲ |
| د ادب تعريف | ۲ |
| د ادب تقسيم | ۲ |
| شعر | ۳ـ۴ |
| شعر د خوشحال په نظر كښي | ۴ـ۵ |
| شعر د حميد په نظر كښي | ۵ـ۶ |
| شعر د شيدا په نظر كښي | ۶ |
| شعر د عليخان په نظر كښي | ۷ـ۸ |
| په ژوندكښي دشعر اوادب اغيزه | ۸ـ۱۵ |
| دادب تاثير په اسلامي فقه اوديني احكامو كښي | ۱۶ |
| حقيقت اومجاز | ۱۷ |
| صريح او كنايه | ۱۷ |
| ظاهر، نص، مفسر، محكم | ۱۷ـ۱۸ |
| داستثنا بحث | ۱۸ـ۱۹ |

| سر ليك: | مخ: |
|---|---|
| لغوي تدقيق | ۱۹ـ۲۰ |
| دادب بڼه او ګاڼه | ۲۰ـ۲۱ |
| فصاحت | ۲۱ |
| بلاغت | ۲۱ـ۲۲ |
| عواطف | ۲۲ |
| دعواطفو صدق | ۲۲ـ۳۳ |
| دعواطفو تجلي او ظهور | ۳۳ |
| دعواطفوثبات اونه رالويده | ۳۴ |
| خيال | ۳۴ |
| مبتكر خيال | ۳۴ـ۳۵ |
| مصور خيال | ۳۵ |
| مفسر خيال | ۳۵ـ۳۷ |
| تمثيل | ۳۷ـ۳۸ |
| ددي بحث خلاصه | ۳۸ |
| عاميانه بلاغت | ۳۸ـ۴۰ |
| دپښتو خولندۍ | ۴۰ـ۴۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# ادب

## دادب دکلمې اصل:

اصل يې" هذب " دی د بې عيبه په معنی.

د هذب کلمه په اصل کښې د هغې ونې لپاره استعماليدله چې ځينې څانګې او ځينې ښاخونه به يې قطع شوه او صافه به شوه، وروسته داکلمه له محسوساتو نه معنوياتوته رانقل شو ه او هغه چا ته هم وويل شوه چې عيبونه به يې ورک شوه يعنی مهذب به شو.

ا هل لغت ټول په دې باندې متفق دي چې دمهذب کلمه ديوه کامل انسان لپاره دوني له تهذيبه رانقل شويده، ځکه چې معنوي او عقلي امورله حسي اشياؤ څخه ماخوذ دي لکه دعقل کلمه چې داوښ له جلب، عقل، عقا ل څخه ماخوذه ده.

نو د هذب دکلمې (ذ) په (د)بدل شو او دغه ابدال په عربي کښې ډير مثالونه لري لکه : هذم ، هدم، جدم، جذم دقطع په معنی (ه) په (همزه) بدله شوه او دا ابدال هم په عربي کښې متعارف دي لکه: اهل، آ ل، ماه، ماٗ او داسې نور...

نو هذب، هدب شو او هدب په ادب بدل شو.

ځينې وايي چې په يوناني ژبه کښې اديب هغه چاته ويل کيده چې خبرې به يې خوږې وې او دښه اواز او ښې نغمې خاوند به و. نو هرکله چې عربي او يوناني لغتونه يوله بله ګډشويدي دغه لغت هم له يوناني څخه اخستل شوی دی.

ځينې نور وايي چې ادب له (داٗب) څخه ما خوذ دی چې دعادت په معنی دی او دحا ل وشان په معنی هم ذکرشوی دی لکه : (کداٗب ا ل فرعون) مګر دغه راز اشتقاق په عربي کښې ډير نظاير نه لري.

## دادب دکلمې تاريخ:

ځينې وايي چې داکلمه دجاهليت په زمانه او داسلام په ابتدا کښې نه وه ځکه چې نه د هغه وخت په ادبي اثارو کښې راغلې ده او نه په قران کښې شته بلکه لومړی ځل دا کلمه په دې نبوي حديث (ادبني ربی فاحس تاديبي) کښې ذکر شوېده (داحديث محدثينو په دغو الفاظو نه دی ضبط کړی ) ځينې نور وايي چې داکلمه دجا هليت په زمانه کښې هم وه او داچې دهغه وخت په اشعارو او قرآن کريم کښې نشته ددې دليل نشي کيدای چې داکلمه په هغه وخت کښې هډو موجوده نه وه.

دوئ د خپلې مدعا دثبوت لپاره دادليل راوړي چې کوم وخت چې داکلمه په حديث او داصحابو يا دتابعينوپه اقوالوکښې راغله او هيچا يې دمعنی او مفهوم پوښتنه ونه کړه معلومه ده چې پخواهم وه او ارتجا لانه ده ويل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې دا کلمه د حضرت علي (رض) په اقوالو کښې هم ډيره راغلې ده او دجاهليت په وخت کښې هم (اکثم) بن صيفى دبني تميمو مشهور خطيب ذکر کړيده.

## د ادب تعريف :

لغوي معنى خو يې تهذيب دى او څه شى چې له چاسره يا له کوم شي سره لايق اومناسب وي هم ادب ورته ويل کيږي لکه: دمجلس آداب دمعاشرت آداب او داسې نور......
اصطلاحاً ادب هغه پوهه ده چې انسان پخپله وينا او بيان کښې له خطا او غلطۍ څخه ساتي، ځکه ادبي علوم هماغه علوم بلل کيږي چې د وينا ښه والى اوبدوالى، غلط اوصحيح، خوږوالى اوپيکه توب ښيي او په منثور او منظوم کلام کې د فصاحت او بلاغت لخوا بحث کوي.
د ادب په تعريف کښې ويل شوي دي چې ادب دښو الفاظو په وسيله دخپلو احساساتو او ادراکاتو يا دزړه دخبر و ښکاره کو ل او داوريدو نکو په ذهن کښې يې کښينول دي، يعني ادب يوازې دافکارو او روحي حالاتو اظهار نه دى بلکه له يوه ذهنه بل ذهن ته انتقا ل اوابلاغ هم په کښې ملحو ظ دى.
داانتقا ل که په ښه ډو ل او مهارت سره وي چې هم په کښې ښه کلمات انتخاب شوى وي او هم دکلماتو دښه ترکيب او ښه استعما ل په لحاظ دفصاحت او بلاغت مراعات شوى وي ادب ورته ويل کيږي او که داسې نه وي نو عادي خبري دي.

## د ادب تقسيم:

ادب د خپل جو هري او ذاتي تقسيم په لحاظ دوه ډوله دى:
ادب محض، ادب مخلوط.
ادب محض هغه دى چې بې دبيان له لطف او خوږوالي څخه او بې دبديع احساس له تحريکه بل مقصد اوبله غايه په کښې نه وي لکه ځيني عشقي غزلې چې درحمان بابا يا د حميد او خوشحا ل او نوروشاعرانو په ديوانو کښې ګورو يا ځيني منثور اشعار چې دطبيعي مناظرو يا احساساتو او عواطفو تمثيل په کښې وي.
مخلوط ادب ديته وايي چې يو اديب کوم تاريخي، علمي، اجتماعي مطلب په ادبي پيرايه کښې راوړي او ادبي رنګ ورکړي، نو دلته ادب واسطه ده او په لومړی صورت کښې غايه ده.
دلومړي قسم ادب په لحاظ د ادب موضوع شاعرانه احساسات او عواطف، روحي کيفيتونه، حسن او جما ل، دطبيعت ښکلي مظا هر او مناظر، نفسي اغيزې، قلبي تمايلات ګڼل کيږي. مګر دوهم قسم ادب هرڅه په غير کښې نيسي اوکيداى شي چې سړى ساينس اوتخنيکي يا رياضي مسايلو ته هم ادبي رنګ ورکړي او ادب په هرڅه کښې ګډ کاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعر

ځوک وايي هغه موزون کلام دی چې دانسان په احساساتو اوعواطفو کښې تحريک پيداکوي، ځينې نوروايي هرکلام چې دغه کارکولی شي وزن او قافيه ولري او که نه هغه شعر دی.

ځوک بيا وايي چې نه هرڅه چې په زړه اثرکوي او په انسان کښې تعجب يا جوش اوجذبه پيداکوي هغه شعر دی، نو ددوئ په نظرکښې جها ن ټول شعر دی چې سرې يې داسمان په ستورو او شفق کښې، د ډکواو مستو سيندونو په ځپو، دګلونو او چمنونو په رنګ اوطراوت کښې دغرو په لوړو ځوکو، دابشارونو په مستۍ، دبلبلو په شور، دښکلو په ښايسته سترګو او نازنو کښې ګوري، نه يوازې دانه! دمهجورو او ارزومندو په اوسيلو، ددردمنوپه آه وفرياد ، دمظلومانو په ژړاکښې هم شعري کيفيت موجود دی.

له دغسې مختلفو تعريفونو ځخه معلوميږي چې يو داسې کلام چې په زړه او احساس تاثير کوي او په کلاسيکي تعبير (بديعي احساسات په شور راولي) هغه خو ارو مروشعردی، نوکه ځينې نورشيان هم شعر وي وي به، مګر هغه شعر چې خلق پرې يو شاعر ستايي هغه همدغه شی دی اوپه الفاظو کښې ځای لري ددې شعر دعناصرو او اصلي اجزاؤ په باب کښې ډيرې خبرې شويدي چاپه شعرکښې وزن ډير مهم جز بللی دی او چا ادبي صنعتونو ته په ډير اعتناکتلي دي، پخوا به خلکو دغه شعري صنايع چې ځينې لفظي او ځينې معنوي دي دشعر په ماهيت او حقيقت کښې داخل ګڼل مګر اوسيني يې د شعر لباس او زيوربولي. همدغه سبب دی چې د پخوا وخت ادبي مبصرينو او منقدينو دغو صنعتو ته په اصلي نظرکتل اودشعر قيمت يې په همدغه معيار سنجاوه، ددوئ په نظرکښې به ښه شعر هماغه و، چې کوم معنوي صنعت به پکښې و لکه: صنعت طباق، صنعت مقابله، مراعات النظير، صنعت مشاکله، صنعت مزاوجه، صنعت ارصاد، صنعت عکس، صنعت رجوع صنعت توريه، صنعت استخدام، صنعت جمع، صنعت تفريق، صنعت جمع او تفريق، جمع او تقسيم، جمع اوتفريق وتقسيم، حسن تعليل، استتباع، اطراد، تعجب او داسې نور.....

يا به په کښې له لفظي صنا يعو کاراخستل شوی ؤ لکه : تجنيس ،قلب، اشتقاق، رد العجزعلی الصدر، ذوالقافيتين، متلون اوداسې نور.......

مګراوس ځوک په دغه راز جامو او کالونه غوليږي اود شعر ناوې پخپله ګوري، په دې کښې څه شک نشته چې يو ښه لباس په هروخت کښې هرچاته ضروردی او بې لباسه شيان ښه نه ښکاره کيږي، مګرلباس په هروخت کښې تغير کوي او د زيب و زينت سامان وخت په وخت بل راز کيږي. کله خلک اوږدې جامې اغوندي کله لنډې يووخت بخی او چکنونه رواج وي بل وخت ساده لباس ښه ګڼل کيږي، کله په کالو کښې ډير افراط کيږي اوکله بيا هغه پايزيبونه او دسرو نتکې له رواجه ولويږي. شعر هم په دې وخت کښې خپل لباس او زيور له پخوانه بل راز کړی دی اوهغه ټول پخواني کالي نه اغوندي، که ځوک يې په ډيرزور اوتکلف ورواغوندي نو خلک يې نه خوښوي بلکه عيب يې ګڼي.

دغه اوسنۍ نظريه چې دشعرپه باب کښې پيداشوې اوشعر غيرله دغو ادبي صنايعو ځخه يو بل معنوي شی بولي دپښتو په اشعارو کښې يې له پخوا نه تطبيق وينو او زمونږ ددې وخت ځينو ښاغلو اديبانو چې ددغه صنعتو لپاره په ډير تکليف يو يو بيت چېرته په ديو انونو کښې دمثا ل او نمونې په ډو ل پيداکړي داهماغه صنعتونه دي چې په غير قصدي او ارادي ډول په پښتو اشعارو کښې پيداشوي او څه ډيرزيات کوښښ ورپيسې نه دی شوی. يعنې پښتنو شاعرانو د خپل زړه، خپلو احساساتو او عواطفو ترجماني کوله او خپلې سندرې به يې ويلې نوکه به ځينې صنعتونه هم په کښې راغله راتله به، مګر دوی اصلي شی نه ګاڼه او همدغه شي ته يې شعرنه وايه بلکه دزيور او لباس په نظر يې ورته کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره چې دا خبره په خوشبينۍ اومحض تعبيراتو حمل نشي شعر به د ځينو پښتنو شاعرانو په نظرکښې وښيو، چې دوی شعرته په کومه سترګه کتلي دي او د شعرماهيت دوی ته څنګه جلوه کړې ده؟

## شعرد خوشحال خان په نظرکښې :

لکــــــه غشـــــــي لــــــره بويـــــــه تيرانـــــــداز
هســـــــې شــــــعر لــــــره بويــــــه ســـــحر ســـــاز
هميشـــــــــــــه دزړه پـــــــــــــه لاس تلــــــــــــه د وزن
زيـــــات وكــــــم لــــــه وزنــــــه يوتـــــوری غمــــاز
پــــــه تــــــورآس دحقيقـــــت نــــــاوې ســــــپره كـــــا
پــــــه ســـــــپين مــــــخ پلونيــــــولی دمجـــــاز
ســــــل جلـــــوې ســــــل كرشــــــمې ســـــل مكيزونــــــه
پــــــه نظـــــر كښــــــې يــــــې ښــــــكاره دســـــترګو نــــاز
دصـــــــــــنعت زيورپــــــــــه خورنګـــــــــه وريــــــــــورې
دتشــــــــبيه چنــــــدڼ چــــــــووه بانــــــــدې طــــــــراز
دمضـــــــــمون دنزاكــــــــــت غمــــــــــزه ورڅخــــــــــه
ســــــــرترپايه درســــــــت صــــــــورت ســــــــره يــــــــوراز
كــــــه پــــــه نظــــــم كښــــــې كارګــــــه اوتپــــــوس راوړي
هــــــم دزړونــــــو پــــــه ښــــــكار ګرځــــــي لكــــــه بــــــاز

(c) ketabton.com: The Digital Library

چـــــې يـــــوه وينـــــا يــــې وكـــــړه هوښـــــيار هغـــــه

عـــــاقلان بـــــه ويـــــل كانـــــدى پـــــه ايجـــــاز

خوشحا ل په دې بيتوکښې کما ل کوي چې خپل اغاز په غشي اوتيراندازئ کوي ځکه چې دشعرغشى هم په زړونو لګيږي او همدغه يې هدف دى، سحرويل ورته که څه هم نوى تعبير نه دى مګر منلى او مسلمه خبره ده، داچې له وزنه يوزيات ياکم توري غماز بولي ډيرښه خبره ده او له غمازنه ورته بله ښه کلمه نشوپيداوکولى، که ووايو چې د غمازکلمه به هيڅا دغسې په ځاى نه وي استعما ل کړى څه غلطه خبره به نه وي.
د خوشحا ل له دغه شعر څخه معلوميږي چې دى بې وزنه کلام ته شعر نه وايي، په دريم بيت کښې چې دحقيقت ناوې په تورآس سپروي اوپه سپين مخ بې دمجاز پلو نيسي خومره ښه تعبير دى ځکه چې حقيقت ومجاز علاوه په دغه مفهوم چې دبلاغت په فن کښې يې لري او ديوې کلمې استعما ل په موضوع له، معنى کښې حقيقت بولي او په نورو ځايو کښې يې مجاز ګڼي د تصرف او عرفان په لحاظ بله معنىٰ لري او نورکوايف په کښې ليده شي. په هرصورت موږويلى شو چې خوشحال بې حقيقته کلام ته شعرنه وايي اوبې دحقيقت له سپين مخه دمجاز ښايسته پلواو رنګين پوړنى هم څه اصلي غايه نه بولي.
د خوشحا ل په نظرکښې شعريوه حقيقي ناوې ده چې هم سپين مخ لري هم مجاز ي پلو، چې له سلو جلوو سلو کرشمو مکيزونو سره يې په سترګو کښې هم نازشته او دصنعت خورنګه زيور وريورې دى.
وګورئ! چې خوشحا ل صنعت ته د زيور په سترګه ګوري او اصلي معشوقه يې نه ګڼي دمضمون دنزاکت غمزه هم بې له صنعته يوبل شى ګڼي او سر تر پايه دشعر په صورت کښې تناسب اويو راز والى غواړي بيانو وايي چې په دغسى نظم کښې که کار ګه او ټپوس راوړل شي هم داسې باز ورځنې جوړشي چې د زړونو ښکارکوي.
هو! دشعرله زړونو سره کاردى او د همدغه ښکارلپاره پيداشوى دى په دې بيت کښې علاوه په دې لطف چې له کارغه اوټپوس نه زره ورونکى باز جوړوي دا لطف هم شته چې دزړه دښکارپه يادلو سرې ته دخپلې اولې مسرى تيراندازي اوغشى هم يادوي، په وروستى بيت کښې چې ايجاز يوه شاعرانه او ادبي هوښياري بولي ښايي چې د خپل دغه شعر ايجاز او زياتو دلالتونوته به هم اشاره کوي چې خومره ښه مطالب يې په کښې ځاى کړى دى او په يوڅوبيتوکښې يې دومره څه ويلي دي چې يوه لويه مقاله يايوه رساله ورځنې جوړيدى شي.

## شعر د حميد په نظر کښې:

شـــــــــعرنه دى داخونـــــــــاب دزخمـــــــــــــي زړه دى

يادســــــــتي وتلــــــى دم لــــــه خـــــــولې دمـــــــړه دى

يـــــا نغمـــــه دنـــــيم بســـــمل مرغـــــه دخـــــولې ده

يـــــا مجنـــــون تـــــه معمـــــا ښـــــکلې ليلـــــى ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یــــــــا دوینــــــــــو اباســـــــــــیندوهلی مــــــــــــوج دی

یالـــــــــه ښـــــــــاره دحیـــــــــــرت وتلــــــــــی فـــــــــوج دی

دلته که څه هم حمید په ظاهره کښې وايي چې شعرنه دی مګر مطلب يې دادی چې همدغه شی شعردی اوپه دې درې بیتوکښې دی خپله نظریه دشعر په باب کښې پوره ښکاره کوي. که څوک دا بیتونه په دقت وګوري هغه پـو هیږي چې حمید شعرته څه وايي او شعر دده په نظریه کښې څنګه ښکاره شوی دی؟ ( ددی بیتو مورد به خاص وي مګر حکم يې عام دی) دی وايي شعر یاد زخمې زړه خوناب دی یا هغه وروستی دم دی چې له صورت او کالبوت څخه په ډیر حسرت وتلی وي او ډیرې ارزوګانې پرې ایښې وي یا دعشق دنیم بسمل مرغه یا مجنون ته دلیلی معما ده یا دوینو د جوش موج یایو عالم حیرت دی چې دی ورته فوج وايي اود حیرت له ښاره يې راوتلی ګڼي.
د حمید زیات مهارت په دی کښې دی چې دشعرپه تعریف کښې یوعالم تر دد ښکاره کوي او سړی پوهوي چې شعر پیژندل څه اسانه کارنه دی. دا آسانه خبره ده چې سړی ووايي شعر دانسان بدیعي احساسات خو څوي مګر که پوښتنه وشي چې څنګه اوپه څه راز، اوشعر دومره اغیزه له کومه کړه؟ نو خبره ډیره ګرانیږي او د حمید غونډې یو موشګاف بويه چې داځواب ووايي او دشعر په معرفي کښې دشعر دتاثیر علت او سبب هم بیان کړي.
دحمید دغه تعریف چې دشعر لپاره شاعرانه تعریف دی، مونږ دې ته ملتف کوي چې شعر یو درد اواحساس، یودعشق اوجما ل پیغام، دیوه هیجان او اعجاب اوتحیر موج او فوج دی چې په الفاظو او کلماتو کښې يې ګورو.

## شعر دشیدا په نظر کښې:

مضـــــــــــمون دشـــــــــــعر لکــــــــــه پیکــــــــــــردی

رنګــــــــین الفــــــــاظ یــــــــې رخــــــــت وزیــــــــوردی

ورتـــــــــــــــه ضـــــــــــــــرور دي دا دواړه څیـــــــــــــــزه

پیکرکــــــــــــه هـــــــــــر خودلربــــــــــا تـــــــــــردی

شیدا هم په شعرکښې پیکراوزیور سره بیل کړی دی او داسې نه کوي چې یوازې رنګینو الفاظو ته شعر ووايي اوشاعري په الفاظو کښې ولټوي مګرېې رخت و زیوره پیکر هم نه خوښوي اوپه دې ضرورت اقرار کوي. که ریښتیا ووايو له دغه ضرورته هیڅوک سترګې نشي پټولی او رنګین الفاظ دا حق لري چې رخت و زیور يې وبولو ځکه چې دالفاظو تاثیر یوه منلې خبره ده او هرڅوک پوهیږي چې ادبي کلمات په هر چا او هرځای کښې قوي حاکمیت لري.
ډیر شعرونه شته چې یومضمون په کښې راغلی دی او دتوارد په اثرکښې هغه څه چې یوه شاعر ویلي بل هم ویلي دي مګر دیوه الفاظ شاعرانه دي اودبل نه دي ځکه دیوه شعرښه ګڼل کیږي او د بل هغومره نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شعر د علیخان په نظر کښې:

عذاب نه دی نه ثواب شعر خو ثوب دی

ګاه یې اغوندي انسان ګاهې سبوع

عنوانات دي دا ابیات معنون حکم

ښه بد ګوره دمحمول او د موضوع

دعلیخان له دې دوه بیتو معلومیږي چې دی منظوم الفاظ شعرګڼي او وایي چې شعریو لباس دی چې کله به یې ښه سړی اغوندي اوکله بد، یعني دی لکه خوشحا ل او شیدا شعر یوپیکرنه بولي چې لباس ته محتاج وي بلکه لباس یې ګڼي چې کله یوه ښه شي او کله بدشي ته په غاړه کیږي، دعلیخان نظریه هم دشعرپه نسبت لکه دپخوانیو نظریه داسې ده اوس هم ځینې کسان شته چې وایي شعریو ښایسته لوښی دی چې کله په کښې دوا او کله پکښې زهرلویږي یاشعر یو زیوردی چې کله ښې ښځې اوکله بدې ته په غاړه کیږي (۱)

مګر دعلیخان په نظریه کښې یوشی شته چې دی یې دې خبرې ته اړکړی دی چې شعرته لباس ووایي، هغه شی دادی چې علیخان له ځینو داسې ملایانو سره خبرې کوی چې هغوی شعر ممنوع ګڼي نودی مجبور دی چې شعرته نه ثواب او نه عذاب ووایي بلکه ثوب یې وبولي اود شعر لمنه د دوی له لاسه خلاصه کړي، د همدې لامله ددغو بیتواغاز هم په دی ډول کوي:

عالمان شعر په خه ګڼي ممنوع

ډیر ابیات له آنحضرته دي مسموع

عذاب نه دی نه ثواب شعر خو ثوب دی

ګاه یې اغوندي انسان ګاهې سبوع

که چیرې علیخان بې ددغسې کوم عامله د شعر حقیقت بیانولی یا چاترینه پوښتنه کړی وای چې شعر څه شی دی؟ یقین دی چې شعر به یې تش لستوني نه وګڼلی ځکه چې علیخان کوم داسې شاعرنه دی چې دشعر حقیقت او معنویت ته نه وي پریوتلی او محض منظوم الفاظ ورته شعر ښکاره شوی وي. که څوک دده دیوان وګوري او د ده شعرونه له نظره تیرکړي یقین به وکړي چې دغه راز مفکوره او دی ډیر سره لرې دي. مګر خبرې د اقتضاآتو تابع دي کله چې د سړي مطلب په یوه شي کښې بل شانته وي نظریه یې هم بل راز شي.

---

(۱)پدې باب په بله ډیوه کې یومضمون شته چې دلته یې بیانه رانقلوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمان بابا چې دشعراو ادب په مقام کښې لوړ ځای لري اوسړی یقین کولی شي چې دده له نظره دشعر حقیقت پټ نه دی پاته، خوماته یې په دیوان کښې کوم شعر مخې ته نه دی راغلی چې ده د شعر په نسبت خپله نظریه په کښې ښکاره کړی وي او موږ پوه شو چې شعر دد ه په نظرکښې څه راز و؟ مګرچې دشعر رنګ وصورت ته یې ګورو اودا هم په نظر کښې نیسو چې دی خپل شعر په ساده انشاء اوسوزان شعر ستایي پو هیږو چې دی په شعرکښې معنوي حقیقت اوسوز خوښوي او ساده جما ل ورته ښه ښکاره کیږي.

# په ژوندکښې دشعر اوادب اغیزه

که ژوند او حیات ته ښه ځیرشو اودانسانانو کامیابی اوناکامي په نظرکښې ونیسو، دبدبختیو اونیکبختیو په پټوپټو سببونو پسې سترګې وغړوو پو هیږو چې ادب او ادبي رجا ل په دنیاکښې موفق دي اوژوند دادب په اړابو روان دی. هغه اشخاص چې په جامعه کښې مقبول او هغه کسان چې په بدنظرکتل کیږي په عقل او فکر، عمل او کردار کښې به یې لږ فرق وي مګر په ادبي لحاظ به ډیر تفاوت لري.
داچې له یو ه بل نه اورو فلانکی په خبره پوهیږي یادښه سلوک خاوند دی، فلانی سړیتوب لري، ددې ټولو خبرو رجع د هغه ادبي حیثیت اوشخصیت ته وي او د هغه له ادبي اوصافو څخه مختلف تعبیرونه دي.
که سړی داشخاصو شخصیت تحلیل کړي او هغه ټو ل صفتونه چې د اشخاصو شخصیت ترې نه تشکیلیږي تجزیه کاندي هیڅ شک نشته چې ادبي خصایص او ممیزات په کښې ستره برخه لري او داجتماعي سعادت او شقاوت سرېه همدغه ځای کښی دی. دلته تاسې د ځینو بدبختوشاعرانو حا ل اوحیات په نظرکښې مه نیسئ ځکه چې دوی د هغو ادباؤ په نسبت چې له مواقعو نه په خوړو خبرو، ظرافتو نو او لطایفو، ادبي حکایاتو او اشعارو استفادې کوي خور ا لږ د ي اوهیڅ په حساب کښې نه راځي.
دلته غرض له ادب او ادباؤ څخه یواځې شعر اوشاعران نه دي بلکه هغه اشخاص دي چې دوخت او حا ل له مقتضا سره سم له خپل ادبي اقتدار، له خپلو اوضاعو او حرکاتو، له خپلو خبرو او اظهاراتو کار اخیستلی شي اوکله کله مناسب بیتونه هم په ځینو مواردو کښې ویلی شی نو ددغه راز تطبیقي ادب خاوندان که څه هم بیسواده وي او څه نه شي لیکلی ادبي رجا ل او د ادب خاوندان بلل کیږي، دغه راز ادبا تاسې د شعراؤ په تذکرو او جرایدو یامجلو کښې مه لټوئ بلکه په مجلسو او محافلو لارو او کوڅو، کوروکلي کښې یې وګورئ چې خومره ډیراو څومره موفق دي.
که چیرې شعر و ادب یوه وبولو او شاعرانو ته ددغې ډیوې سوي پتنګان ووایو، ویلی یې شو مګر کوم اشخاص چې ددغې ډیوې په رڼا کښې ناست دي، او ادبي محفل یې جوړکړی کله دشمع په نسبت اوکله دپتنګ په نسبت ښه ښه بیتونه وایي او په مخکښې ورته کتاب وکباب دواړه ایښې وي دا هماغه ادبا دي چې له شعراو ادبه ګټه او استفاده کوي.
هرچاته به پخپل کوروکلي کښې ځینې کسان معلوم وي چې هغوئ په خلقو کښې نفوذ او تاثیر لري او دغه نفوذ د دوی له ادبي اقتداره پیداشوی وي څوک چې له خلقو سره په خوږه ژبه خبرې کوي، پخپل مقصد اومطلب هر څوک ښه پوهولی شي.
د خپلې مدعا لپاره ادبي دلایل چې په عامه طبقه بلکه په خواصو هم ډیر تاثیر لري پیداکولی شي هغه هرګوره په جامعه کښې مقبولیت لري او په ادبي مهارت باندې عزت، ثروت، شخصیت، ښه شهرت، هرڅه ګټلی شي ځکه چې ادب زموږ په ژونداو حیات حاکمیت لري او په دغو خوږو پسې هر څوک هڅه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې موږ خپه یواو خپګان راپیښ شوی وي، یاکوم مصیبت اوبد بختي راغلی وي نو په ادبي ویناؤ خپله تسلي کوو او په شعرونو خپل غم غلطوو ، په دغسی احوالو کښې که په یو داسې صحبت او مجلس کښې ګډون وکړو چې هلته لطایف او ظرافتونه وي یاڅوک دغم او مصیبت، صبرو استقامت په نسبت شعرونه وایي او راز راز حکایتونه کوي ضرور هغه پخوانی حا ل نه پاته کیږي اوپه وضعیت کښې تغییر راځي که چیرې کوم دښادۍ مجلس وي او ددوه تنو دپخلا کولو او نژدې کولو دپاره کوم مجلس منعقد شوی وي هلته هم ادبي منطق اوادبي استدلال دخوشالۍ شعرونه ډیر کارکوي، که ددوه تنو څه جګړه او دعوه وي نوهم په ادبي براهینو او شواهدو ښې ښې فیصلې کیږي. دغه راز حیاتي جریانات چې په نظر کښې ونیسو ویلی شو چې ادب زموږ هغه ملګری دی چې په غم او ښادۍ کښې راسره دی او یوه خوږه یارانه راسره لري. کله چې تیاره او تورتم له هرې خوا زموږ په ژوند احاطه وکړي او دعلم وعقل رڼا مغلوبه شي همدغه ادب دی چې د امید کړکۍ راته خلاصوي او د رڼا زیری راکوي په همدغو مره وینا هم دادب تعریف نه تماميږي باید ووایو چې ادب په جګړواو دعوو کښې شاهداو حکم هم دی ځکه چې په اکثرو مجالسو کښې چې یو ه خبره دځو تنو په قضاوت فیصله کیږي هلته ادب اوادبي اقتدار ډیر ډیر کومکونه کوي که خبره دوایرو ته ولاړه شي په هغه ځای کښې هم ادب لارلري او هرڅوک يې له تاثیر لاندې راځي. له دغسې محالفو او مجالسو چې تیرشو او خرابات ته ننوزو هلته هم دغه دیوهانو او صوفیانو اشنا (شعروادب) له رندانو سره ډیرې پټې اوښکاره خبرې لري اوپوره محرم معلوميږي مګر عجیبه لاداده چې دغه د بزم او بزمیانو همنشین دخطابو په ممبرونو هم دریږي او په مکتبو او مدرسو کښې داخلاقو درس هم ورکوي . کله چې دوطن اوملیت دناموس ساتلو وخت راشي بیا داسې سندرې وایي چې دتوریالیو او ننګیالو وینې په جوش راځي او ځانونه اورته غورځوي دا ځکه چې شعرو ادب دحیات په هره خواکښې کارلري اوحصر و اختصاص نه قبلوي، هرشاعر چې ګوری په یوه شعر کښې به ځان یوراز ښیي اوپه بل کښې به بل شان معلوميږي. همدغه سبب دی چې ځینې کسان دشاعر معنی په (متلون المزاج) باندې کوي او وایي چې شاعر هغه څو ک دی چې دخپلو احساساتو تابع وي او هرڅه يې چې په زړه وګرځي هغه وایي.

رښتیا وایي شاعران خپل احساسات اوعواطف نه شي پټولی او ارومرو يې خلکو ته په شعر کښې ښکاره کوي مګر داتعریف یوازې دشاعردپاره نه دی او هرانسان همدغسې شی دی هرڅوک چې تاسې ګورئ دخپل احساساتو لږ او ډیر تابع دی ا و له خپل زړه څخه ترجماني کوي خو دنورو خلکو خبرې باد وړي او دشاعرپاتې کیږي ځکه دمزاج په تلون یوازې دی یادیږي اوبل چاته څوک ګوته نه نیسي. که چیرې همدغه سړی چې شاعر په دغه صفت پيژنې خپل ځانته وګوري او هیرزړی نه وي پوه به شي چې انسان په ټولو اوقاتو کښې یو راز نه وي او په ډیرو شیانو کښې يې فکر یو راز او بل راز کیږي ډیرځله په کوم مجلس کښې په کومه موضوع بحث کیږي او راز راز مختلف ومخالف نظریات او دلیلونه راوړل کیږي چې د اکثرو اشخاصو فکرونه هم ورسره اوړي را اوړي او خیالونه بل راز کیږي. ډیر اشخاص شته چې یوه ورځ یوه سړي ته ښه وایي بله ورځ يې بدبولي، یووخت دیوې مفکورې طرفداروي بل وخت دبلې کله چې څوک دده احساسات او جذبات راوپښ کړي بل شان شي چې په طبعیي احوالو کښې هغسې نه وي له ځانه سره یو ډول فکر کوي او په جمیعت کښې بل ډول، دیوه کتاب اوبل کتاب په کتلو ډیر فرق په کښې راځي اوواقعات وحوادث بیخې بل شی ورځنې جوړوي نوکه څوک خپل نفسي احوا ل او روحي کیفیات په نظرکښې ونیسي ارومرو به اقرارو کړي چې زه پرون بل څوک وم نن بل څوک یم سبابه بل څوک شم، په محراب وممبر کښې یو راز جلوې کوم اوپه کور وخلوت کښې بل شان کارونه لرم. نو دا خوی یوازې دشاعر نه دی دډیرو دی. هرانسان کله له دنیانه مرورشي اواخرت په خوب ویني کله بیا ددنیا یوه شیبه عیش اوعشرت له جنتونو سره نه برابر وي.

انسان په ډیرو احوالو کښې داحساسي اوادبي اغیزو تابع وي اوکله له تعقل او تفکر څخه کار اخلي ځکه چې ژوندون داکثریت په اعتبار ادبي دی نه عقلاني، ادب او احساس دزماني اومکاني اغیزو او حواد ثو له تاثیر لاندې وي او تعقل هم دغو اغیزو اوتاثیراتو ته غاړه ایښي ده نو هر کله چې ژوند دمختلفو احوالو نوم دی اوشعر دشاعر د ژوندون هنداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ضرور به کله اخلاقي کيږي او کله به عشقي رنګ پيدا کوي. يووخت به پکښې دننګ وغيرت خبرې وي بل وخت به ننګ وغيرت په ډېرو و لي، نو هيڅ تعجب نشته که خوشحا ل خان يو وخت وايي:

مـــــخ دهغـــــو تورشـــــه چـــــې يـــــې مينـــــې نفســـــاني دي
يـــــوه مينـــــه بـــــاقي ده نـــــورې کـــــل مينـــــې فـــــاني دي
مکـــــړه دنفـــــس نغوتـــــه د هـــــوا پـــــه لـــــورې مـــــه ځـــــه
واړه دنفـــــس چـــــارې شـــــيطاني ، نـــــه رحمـــــاني دي
کردبـــــدو مکـــــړه بـــــدکاران دبـــــدو کرکـــــا
هرچـــــې نيکوکـــــار دي دنيکـــــي پـــــه د هقـــــاني دي

وخـــــورې خملـــــې پـــــاخې نـــــه دې فکرنـــــه دې ذکـــــر
تـــــه ځـــــه ســـــرى نـــــه يـــــې دا خويونـــــه حيـــــواني دي
مـــــه اوســـــه بـــــې ذکـــــره هميشـــــه اوســـــه پـــــه فکـــــر
ذکـــــر فکـــــر واړه دزړه کـــــاردى روحـــــاني دي
ډيـــــر خلـــــق نـــــاپوه دي چـــــې يـــــې ډارنـــــه شـــــي لـــــه مرګـــــه
خانـــــدي هوســـــيږي پـــــه ځـــــه خـــــوښ پـــــه نـــــاداني دي

همدغه واعظ په بل وخت کښې د نفساني مينو او خواهشاتو له اثرلاندې راځي او په ښکاره ناري وهي چې خوله يې راکړه.
ياوايي:

مســـــت يـــــم مـــــى پرســـــت يـــــم هميشـــــه اياغ پـــــه دســـــت يـــــم

يوســـــاعت چـــــې ځـــــي رابانـــــدې غـــــم دى بـــــې اياغـــــه

تـــــل هـــــوا هـــــوس کـــــړه تـــــر اولـــــه يوپـــــه لـــــس کـــــړه

ســـــتا لـــــه غمـــــه ځـــــه دي کـــــه زه ولاړم لـــــه فراغـــــه

مګرپه دې ويلويې هم تنده نه ماتيږي اوپه ډيرو صريحو الفاظو د هغه جهان سفر هم قبلوي خودلاس بريدو خبره ده نوهر کله چې انسان همدغسې شي دى چې کله طاعت کوي کله ګناه اوهيڅ انسان داسې نه شي کيداى چې دنفس له خواهشاتو چورلاس واخلي ياشپه او ورځ په لهو و لعب مصروف شي او هيڅکله ورته دمړينې فکر پيدانه شي، شعر هم نه بشپړه اخلاقي کيږي او نه بيخې شهواني کيدى شي نوکه خوک په دې باب کښې شاعر ملامتوي بايد مطلق انسان ملامت کړي چې ولې کله داسې اوکله هغسې وي ياپه بل عبارت هم داکوي هم هغه که چيرې شاعر هم دنورو غوندې ټګ يا هوښيار شي چې دزړه خبرې اوخپل تمايل پټ کړي ژوند يې يو راز او نغمه يې بل رازوي په شعرکښې به هرګوره دغه خونداو کيف پاته نه شي ځکه چې شعر خو د همدې لامله په زړونو تاثير کوي چې د زړه خبرې دي او له حيات سره موافقت لري په همدغه وجه شعر او ادب دتاثير او اغيزې په لحاظ له علم او فلسفې نه ميدان وړى دى او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کسان چې ادبي اوخطابي اقتدار لري او دخپل ادبي استدلال اوادبي سحر په اثر دخلقو په احساساتو لوبې کوي په هغوکسانو غلبه مومي چې دخلکو عقلي اقناع ته توجه لري او له علمي براهینو کاراخلي دهمدې لامله داجتماعیاتو یو لوی عالم، ګوستاولوبون وایي:

که غواړې چې یو جمعیت له خپل تاثیرلاندې راولې نو هرڅه چې ورته وایې په تاکیدي ډول یې وایه او په ډیر حرارت یې مکرر کوه؛ صحیح براهین اومثبت حقایق پریږده او له علمي او منطقي جد ول څخه کارمه اخله، له هغو حرکاتو اوتمثیلونو ډیر کاراخله چې حواس له تاثیرلاندې راولي. مجازي عبارات، جالب نظر تشبیهات، ساحرانه کلمات لکه حریت، وطن، وروروليي، علم، حقیقت، مساوات ډیر ډیر وایه؛ پخپلو خبروکښې د خلقو خواهشات له نظر لاندې نیسه نه عقلونه.

دګوستاولوبون له دې څو خبرو به معلومه شوی وي چې دادب تاثیربه خلقو باندې له علم او تعقل نه زیات دی اوصحیح براهین یامثبت حقایق دومره اثرنه لري لکه چې مجازي عبارات او جالب نظرتشبیهات یې لري.

که موږ پخپله هم په حیات کښې دقت وکړو راته معلومیږي چې ادبي تعبیرات اوادبي براهین په رښتیا ډیرقوي دي او دغه راز ادبي رجا ل چې لکه ګوستا لوبون د جمعیتو نو دمتاثرکولو په چل پوه شوي دي او د خپلې وینا په ادبي جاذبه یا د خپلو اوضاعو او حرکاتو په مرسته په خلکو تاثیر اچولی شي هغه که لیکونکي وي او که نه وي، پخپله شعر وایي او که دنوروله اشعاروکار اخلي په جامعه کې نفوذ پیداکوي اوله علمي او عملي رجالو څخه بر کښیني.

دغه راز اشخاص چې مثالونو شودلو ته یې ضرورت نشته پریږدئ او یوازې هغه شاعران په نظرکښې ونیسئ، چې پخپلو اشعارو یې له پادشاهانو او لو یو خلقو څخه ډیر انعامونه اخستي دي او ډیر قدرونه یې لیدلي دي. د دوی شمیر هم دومره زیات دی چې لکه خزانۀ عامره یولوی کتاب پرې ډک دی اوڅوتنه یې دلته یادوو:

امیرخسرو: دې شاعر له ډیرو پادشاهانو او لویو خلکو څخه بخششونه لیدلي چې دهٔولو بیان او ږدیري. یوه صله یې چې له سلطان قطب الدین څخه اخستې ده هغه د یوه هاتې ( فیل) په تول سره او سپین وو.

فرخي سیستاني: په یوه قصیده له امیرابوا لمظفر ناصرالدین طغاني څخه چې دبلخ حاکم و، دوه څلویښت اسونه په جایزه کښې واخیستل.

فطرتي کشمیري: په دوه بیتوله اکبر پادشاه څخه دوولس زره روپۍ انعام واخیست.

سید ذوالفقار شرواني ته په یوه مدحیه قصیده یوه وزیر ۷ خرواره وریښم ورکړه.

دانشي مشهدي ته شهزاد ه داراشکوه په دې یوه بیت:

تاک راسرسبزکن ای ابرنیسان دربهار
قطره تامی میتواندشد چراګوهر شود

یولک روپۍ وبخښلې.

حیاتي کاشي: ده ته جهانګیرپادشاه دتغلق نامې په یوه مبحث باندې دده په تول سره او سپین ورکړه.

ارزقي وایي: چې طغانشاه سلجوقي کومه ورځ د تختهٔ نرد لوبه کوله مګرلوبه یې ښه نه وه او ده ته دومره قهر ورغلی و چې هرساعت به یې توري ته لاس کاوه او دمجلس خلق ډیرپه ویره کښې وو په دې وخت کښې ارزقي یوه رباعي وویله چې دده له لوبې یې دحسن تعلیل په ډول ښه تعبیروکړ او دی پرې دومره خوشحاله شو چې پنځه سوه طلا یې وروبخښلې اولوبه کوونکي هم له خطره خلاص شول، رباعی داده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرشاه سه شش خواست سه یک نقشی فتاد

توطن نبری که کعبتین داد نداد

شش چون نگریست حشمت حضرت شاه

از حشمت شاه روی برخاک نهاد

په دې رباعی کښې نه کومه فلسفه شته نه څه علم، فقط همدومره خبره ده چې طغانشاه کعبتین غورځوي چې شپږ خاله راووزي مګرتقدیر داسې پیښوي چې دشپږو خالو مخ د ځمکې لورته کیږي او درې خاله راوزي، څه چې پادشاه غوارې هغسې نه کیږي ځکه ده ته قهر ورځي او وضعیت یې بل راز کیږي ارزقي په دغه وخت کښې وایي هغه شپږ خاله چې شاه یې غواړی دشاه له هیبته مخ په خاورو ږدي او دده د حشمت احترام کوي، پادشاه لکه چې په هیڅ خپه شوی و، دغسې په هیڅ او خوشې خبره خوشحالیږي او هغه لاس چې توري ته یې وور بخشش ته یې اوږدوي.
دې خبرې ته څه ډیر تعجب مه کوئ انسان په همدغسې خبرو یو راز او بل راز کیږي اوادب دغسې ډیرې اغیزې لري.
سلطان محمود هم کوم وخت په بل حا ل کښې و، او دایاز دڅڼو لنډولو حکم یې صادرکړ، چې دهغه څڼې لنډې شوې پخپل حکم ورته پښیما نتیا پیداشوه چې دا مې څه وکړه؟ او څه رانه وشوه؟ سلطان که څه هم ډیر ډیر کارونه کولی شو مګر هغه څڼې یې په هغه ساعت نه شوې اوږدولی او حسن و جما ل یې بیرته ژرنه شو راګرځولی، داپښیماني ورو ورو زیاتیده او دی یې دې حدته ورساوه چې په مجلس کښې هیچا خبرې نه شوې کولی. پوهان او هوښیاران حیران وو چې څه وکړي، عقل او منطق په دې وخت کښې څه کارنه شوکولی او داغم یې له شعره په بل شی نه سړیده. دډولو سترګې عنصري ته اوښتې اوهغه څه چې په سلطانانو هم اثر او غلبه لري دعنصري په برخه وه، نو هغه راغی او دارباعي یې وویله:

گرعیب سر زلف بت از کاستن است

چي جای بغم نشستن وخاستن است

وقت طرب ونشاط ومی خواستن است

کاراستن سرو زپیر استن است

ددې رباعی په ویلو غم ورک شو او خوشحالي راغله سلطان دعنصري خوله درې ځله له جواهرو ډکه کړه. که څوک دې رباعي ته دکوم حقیقت یاد تعقل په سترګه ګوري هیڅ به په نظر ورشي او وایي به چې په دې کښې نوڅه دي؟ مګر دا هم دشعر لوی قوت دی چې هیڅ په کښې نه وي هم یولوی سلطان له خپل اثر لاندې راولي او په ډیر وجواهرو ځان خرڅوي.
دیوه بل پادشاه نقل کوي چې خپلې عملې ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبابه فلانکي ځای ته دښکارلپاره ځو مګر هرڅوک که دمخه تللی و سريې دو هلو دی، سبا چې پادشاه له خپلې عملي سره روان شوګوري چې يوسړی دمخه روان دی او ښکارته ځي پادشاه په ډير قهر وويل ته نه يې خبر چې ماپرون څه ويلي وو اوستا سزا څه ده؟ سړی شاعرو اوپوه شو چې بې له شعره بل هيڅوک دپادشاهانو د قهر وعتاب ځواب نه شي ويلی نويې دابيت ووايه:

مـــــــــن آن ســــــــتارهٔ صـــــــــبحم کـــــــــه از طريــــــــــق ادب

هميشـــــــــــه پيشـــــــــــرو آفتـــــــــــاب مـــــــــــی باشـــــــــم

دابيت نه ؤيخې اوبه وې چې د قهر و غضب په اور تويې شوې اوعتاب په لطف ومرحمت بدل شو.

دغه راز ادبي اغيزې اوس هم شته مګر په بل رنګ، اوس هم که څوک چا ته په دغسې خبرو سمدلاسه جواهراو طلا نه ورکوي نو په زړه کښې خو ځای ورکوي او څوورځې پس يې په غير مستقيم ډو ل تاثيرات ځرګنديږي. اوس هم موږ ملتفت نه يو کنه هر څوک تريوه حده د خوږو خبرو او ادبي تعبيراتو لـه اثرلاندې راځي او ددغسې کسانو قدر کوي.

يوه ورځ چا حکايت کاوه چې زه وروسته له څه مودې مسافرت نه خپل کوروکلي ته راغلم او تقديراً په دواړو سترګو غومبسو وچيچلم نو څوک به چې ليدو ته راتله ورته به ويل کيده چې صحت يې ښه نه دی او دراتلو ياکښينا ستلو توان يې نشته، بله ورځ يو آشنا راغی چې دخواږه صحبت خاوند و او دهغه دخوږو خبرو خاطرات مانه وو هير کړي.

نوهر څه مې چې وکړه دهغه له صحبته مې زړه صبر نه شو کړای او په پټو سترګو يې مجلس ته ورغلم. هغه چې زه په دې حا ل وليدم راته يې وويل: ډيره موده نه وې راغلی ددې ځای غومبسې هم درپسې خپه شوې وې او په سترګو يې ښکل کړې! که سړی فکر وکړي دا خبره کوم حقيقت نه لري اونه دغومبسو له زړونه څوک خبر دی چې موږ ولې چيچي، اود څه دپاره داکارکوي؟ مګر ادبي تعبيرات که څه هم واقعيت په کښې نه وي خواږه کښې وي او ويلی شو چې ددغه سړي ليده به هم په دغسې حا ل کښې د همدغه راز خبرو په اثرکښې وو او په حقيقت کښې همدغه خبره دليدو واسطه شوه.

دې راز خبروته بايدسړی په بې اعتنايۍ ونه ګوري ځکه چې موږ هريوپه مجلسونو کښې په همدغسې خبروهم خوشحاليږو او هم قانع کيږو چې که څوک ورته دعلم او علمي استدلال په عينکوګوري دقناعت وړبه نه وي مګر څوک په کښې له قضاوت او حکمت نه کارنه اخلي اوپه پټو سترګو يې مني.

مشهوره ده چې کوم وخت شيخ بوعلي سينا دبوسعيد ابوالخير په مجلس کښې ناست و او څوک راغی چې سرمې خوږيږي، هغه يې په دملو شروع وکړه بوعلي سيناپه خنداشو، بوسعيد ابوالخير ترې پوښتنه وکړه چې ولې خاندې؟ ده وويل چې دسردرد ښايي چې دصفر اپه اثروي نودم يې څه چاره کولی شي؟ سعيدابولخير ورته يوه سخته خبره له خولې وايسته چې شيخ ډيرخپه اومتاثر شواو بيايې ورته وويل په تاغوندې يو لوی حکيم باندې يـوه ادنی کلمه دومره تاثير کوي نو په دې سړي به ولې اسما الله اثرنه کوي شيخ چوپ شه او ددې خبرې په جواب کښې يې هيڅ ونه شوويلی سړی چې دبوسعيد ابوالخير په خبره کښې غورکوي پوهيږي چې ده له ادبي استدلال څخه کار اخستی مګربوعلي غوندې يولوی سړی پرې قانع شوی او دسعيد ابوالخير په نسبت يې ويلي دي: هغه څه چې زه پرې پوهيږم دی يې ويني.

په دې کښې څه شک نشته چې دمونه ډير تاثيرلري او ډير خلق پرې سمدلاسه جوړيږي مګردغه دليل دعلم ومنطق په لحاظ دبحث ډير مجا ل لري خوادبي دلايل بې بحثه منل کيږي او هغه جدل چې په علمي براهينو کښې کيږي دلته نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطابي مقام دا امتياز پيدا کړی چې څوک به يې دخبرو ترديد نه کوي او هر څه به يې اوري په شعر او ادب کښې ډيرې خبرې شته چې څوک يې دعلم ومنطق له مخې اثبات نه شي کولی مګر ددې لامله چې منکر او معترض نه لري نو سرې ورته مسلمات ويلی شي.

درحمان بابا دابيت:

بـــادچې ســـتا پـــه زلفـــو بانـــدی نيـــت دپريشـــانی کـــړ

ځکــــه يـــــې ګردونـــــه دجهـــــان واړه پـــــه ســــــردي

دواقعيت او حقيقت په لحاظ هماغسې خبره ده لکه دغومبسو چيچلو په نسبت چې د مخه تيره شوه ځکه چې دلته هم د باد په سر د جهان ګردونه کيدل ددې دپاره چې زلفې پريشانوي دشاعر يو تصوردی چې دی به يې هم په زړه کښې نه مني مګر درحمان بابا ديوان به په زرهاو تنو لوستی وي او هيڅ فکربه ورته ددې خبرې په ترديد کښې نه وي پيداشوی ځکه چې ادبي لذت يې سرې دغسې سوداګانوته نه پريږدي. په يوه بيت کښې خوشحا ل خان خټک هم خپلې معشوقې ته وايي:

پـــــه مـــــلال کاتـــــه عاشـــــقان وژنـــــې

ســـــتا پـــــه ســــــترګو کښــــــې چـــــړې دي دقصـــــاب

مګر هيڅوک نه وايي چې په سترګوکښې خو چړې نه ځائيږي او که په سترګو کښې چړې وي نو چې عاشقان وژني خوسترګې به هم ړندی کړي، دابيت سره له دغه اعتراضه چې هيڅوک يې نه شي کولی او نه يې کوي په اوريدونکو تاثير کوي او دانتخاب وړ ورته ښکاري. ددې سبب همدادی چې شعرو ادب بيل ځای لري او څوک ورته په هغه سترګه نه ګوري چې نورو خبروته ګوري.
په شعرکښې لکه چې خوشحا ل ويلي:

کــــــه پـــــه نظـــــم کښـــــې کارګـــــه اوتپـــــوس راوړې

هــــــم دزړونـــــــو پــــــه ښـــــــکارګرځي لکـــــه بــــــاز

تپوسان او کارغان دبازانو کارکوي بلکه باز زړونه نه شي وړلی او دوی زړونه وړي.
په کومو خبرو کښې چې دادب مالګه ګډه شي هغه په هر چاا ثر کوي او هرڅوک يې خوښوي. وايي چې د«هارون الرشيد » دوه زامن وو، چې يوپرې ډيرګران و اوبل لږ، چارو ځنې دسبب اوعلت پوښتنه وکړه، پادشاه دهغه مخکښې خپل نا ګران زوی راوغوښت، هلته څوداني مسواکونه هم پراته وو، نو خپل دغه زوی ته يې وويل چې داڅه دي؟
هغه وويل:
«مساويک» يعني مسواکونه، دی يې رخصت کړاو خپل ګران زوی يې راوباله له هغه نه يې چې تپوس وکړ هغه دا جمع استعما ل نه کړه ځکه چې دې جملې سره يې التباس درلود چې سرې چاته په عربی ووايې چې ستا مساوي يعني کاف په کښې خطابي شي او اضافي ترکيب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو خپل مقصد يې په بل راز اداکړ او ويې ويل چې مفرد يې مسواک دی پادشاه هغه سړی ته وويل چې اوس خوبه ددواړو په فرق پوه شوی يې. له دې واقعې اودې جواب څخه معلوميږي چې دپادشاه يو زوی اديب ؤ، او په ادبي دقايقو له هغه بل نه ښه پوهيده ځکه ورته ګران و.

وګورئ! ادب اوادبي خبرې په زامنوکښې هم فرق راولي او دپلار په نظرکښې هم يو زوی له بل څخه ښه کوي.
له کوم با ادبه سړي نه چا پوښتنه وکړه چې ته لوی يې که فلانکی؟ ده په ځواب کښې وويل چې زما کلونه له هغه نه زيات دي او داسې يې ونه ويل چې زه تر هغه لوی يم ځکه چې ځانته لوی ويل ورته مناسب نه ښکاريده.
داخبره البته څه علمي اوفلسفي قيمت نه لري مګر پخپل ادبي قيمت په کتابونو کښې ژوندۍ پاته شوه او دزمانې باد يو نه وړله.
په يوه ښه سړي چا څو اعتراضه وکړه او ورته يې وويل چې انګورخو پاک اوحلال دي او دانګورو اوبه هم پاکې دي نوشراب ولې ناپاک اونجس دی؟ بل داچې سړی که څه په سترګو نهويني نو څه پوهيږي چې هغه شته (غرض يې له خدای څخه انکارو) دريم اعتراض يې داو، چې کارونه خو ټول تقدير کوي او هرڅه چې چاته مقرر وي هغه رسيږي نو يوسړی ولې دچاپه وژلو قصاص کيږي او ملامتيږي؟ دښه سړي په مخکښې يوه خښته پرته وه هغه يې را وا خيسته او دی يې پرې وويشت، سړی ولاړه عرض يې وکړ او د هغه وخت حاکم دی راو غوښت چې که تا د ده جواب نه شو ويلی نوپه خښته دې ولې ويشته او ولې دې ژوبلاوه؟
ښه سړی ورته وويل ماخونو رڅه نه دي کړي او دده ددرې واړو سوالونو ځواب مې ورکړی دی.
دی وايي انګور او دانګورو اوبه پاکې دي نوشراب ولې مرداردي، ما دی پوه کړه چې دغه خښته خو له خاورو او اوبو جوړه شوه که دی څوک په خاوراو ياپه اوبو وولي نه ژوبليږي، که خاورې اواوبه يوځای کړي اوخټه شي نوپه خټه هم څوک نه دي ژوبل شوي مګر چې لمرته يې کيږدي او وچه شي نو بياسړی ژوبلوي. بل دی وايي چې کارونه خو ټول تقدير کوي نو يوسړی ولې په بل ملامتيږي؟ دده ژوبليده خو هم دتقدير کار و دی ولې زما دلاسه عرض او شکايت کوي. دا چې وايي څه چې سړی په سترګو نه ويني هغه نشته نو دغه دردچې دی ورځنې فرياد کوي دا خوهم څوک په سترګونه ويني.
په دې خبرو حاکم هم قانع شو او عارض هم نور څه ونه شوه ويلی، مګرچې سړی ګوري دا ځو ابونه ادبي دي او دغه ښه سړی که دعلم وفلسفې په اساس ورسره بحث کړی وای ښايي چې هغه يې دومره ژرنه وای قانع کړی اونه يې ځان دغسې په اسانه خلاص کړی وای.
يوه بل چاقصه کوله چې زه يوه ورځ ديوه حاکم په حضور کښې ناست وم چې يوسړی راغی او د چاله لاسه يې په سرخاورې باد کړې، حاکم ته دده عرض بې اساسه معلوم شو چې دی دروغ وايي او په نا حقه عرضونه کوي نو حکم يې وکړ چې وهئ يې! سړي چې په مخ څپيړې وخوړې بيا راوړاندې شواووېي ويل: حاکم صاحب!

تـــــــــاچې پـــــــــه مـــــــــــخ څپيــــــــــــړه راکـــــــــــړه

لـــــــــــه اوښـــــــــــکوډکې ســـــــــــترګې چاتـــــــــــه واړومـــــــــــه

ددې لنډۍ په اوريدو د حاکم وضعيت اوفکر بدل شو او امرېې وکړ چې دده په عرض کښې دې غوراو تحقيق وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دادب تاثیر په اسلامي فقه اوديني احکامو کښي

ادب او ادبي فنون خو د هرعلم اوهرې پوهې لپاره یوه ښه وسیله ده او بشر په علم ومعرفت کښې اصلي او اساسي برخه لري مګر په دیني احکامو او مسایلو کښې یې دومره تاثیر وینو چې ټوله فقه راته یو ادبي استنباط معلومیږي.
که چیرې داسلام علماؤ ادبي قوانین نه وای کشف کړي او په ادبي اجتهاداتو نه وای موفق شوي هیڅکله به څوک دقران کریم په اسرارو او معانیو نه وو پوه شوي او دغه موجوده تفاسیربه میدان ته نه وو راوتلي. د قرآن اعجاز او فصاحت و بلاغت به چا ته نه و معلوم، اسلامي فقه به نه وه تدوین شوې، فرایض او واجبات به له مستحباتو او مباحاتو څانه وو بیل کړی، هغه اوامر چې یوازې اباحت ترې معلومیږي او هغه امرونه چې دوجوب لپاره دي دواړه به یوراز ګڼل کیده او د ډیرو حقایقو په مخ به پرده پرته وه.
همدغه ادبي اصو ل او قوانین دي چې خلک یې د خدای دکتاب په فصاحت وبلاغت وپوهول او دخدای احکام یې وروښودل، د اصول الفقه، اصول البیان، اصول البلاغت، فقه اللغه اوصرفي و نحوي مسایلو په مرسته یې معنا ته لاره پیداکړه او د فکر و اجتهاد خاوندان پیداشو ل.
هرکله چې زموږ دیني کتاب (قرآن کریم) دفصاحت او بلاعت له حیثه داعجاز حدته رسیدلی او زموږ ښکلی رسول(ص) هم افصح العرب بلل کیږي نو ددغسې کتاب او دغه راز پیغمبرپه وینا پوره پوهیدل ډیره ادبي پوهه غواړي او هر څومره چې څوک د ادب په دقایقو زیات پوه شي هغومره دقرآن په ارشاداتو اوعباراتو، دلالتونو او اقتضاآتو ښه پوهیږي. اوپه نبوي احادیثو کښي بصیرت پیداکوي، که موږ اصو ل الفقه په غور وګورو بې له ادبي مسایلو چې په نصوصو پورې تعلق او اختصاص لري بل شی نه دی، که چیرې ددین امامان له عربي لغت او ادب سره پوره نه وای اشنا دغه صحیح اجتهادونه به نه ووشوي؟
په اصول الفقه کښې دشرعي احکامو پیژندل په څلورو تقسیمو پورې اړه لري:
اول تقسیم: دلفظ په اعتبار دی دصیغې او لغت له حیثه چې اقسام یې دادي: خاص، عام، مشترک، ماؑول، داتقسیم دکلمې په اصل وضع پورې تعلق لري.
دوهم تقسیم: دمعنا دظهور اوخفا په اعتبار دی چې هر یو (ظهور- خفا) څلور څلور قسمونه لري.
دظهور اقسام : ظا هر، نص، مفسر، محکم .
دخفا اقسام: خفی، مشکل، مجمل، متشابه.
دریم تقسیم: دلفظ داستعما ل په اعتبار دی اواقسام یې دادي:
حقیقت، مجاز، صریح، کنایه.
څلورم تقسیم: دمراد او مقصد پیژندلو په اعتبار دی چې قسمونه یې دادي:
عبارت دنص، اشارت دنص، دلالت دنص، اقتضأ دنص (۱).
لومړی اودریم تقسیم په کلمه پورې تعلق لري او دوهم وڅلورم په کلام پورې. وروسته تردغو تقسیماتو اوس دمثا ل په ډول د ځینو اقسامو تاثیر اواغیزه په فقه او احکامو کښې داختصار په ډو ل ښیو:

(۱) هرکله چې ددغوټولو اقسامو تفصیل زښت ډیر اوږدیږي اوپه دغسې ضمني بحث کې نشي راتلای نوله بسط و تفصیل څخه یې صرفنظر وشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## حقیقت اومجاز

حقیقت په درې ډوله دی: متعذر حقیقت، مهجور حقیقت، متعارف حقیقت، که چیرې دیوه لفظ حقیقي معنی متعذر ه یا مهجوره وي دټولو په اتفاق مجاز مراد یږي نه حقیقت.
نوکه یوسړی قسم وخوري چې زه به دفلانکي کره قدم کښیږدم او بیا د هغه کاله ته په آس سپورننوزي قسم پرې اوړي، که څه هم حقیقتاً یې قدم نه دی ایښی که چیرې له دروازې نه قدم دننه کړي او بې له دینه چې ننوز ې هغه کره قدم کښیږدي قسم پرې نه اوړي که څه هم حقیقتاً یې قدم ورکره ایښی دی، ځکه چې دلته له قدم ایښودلونه مجازي معنی مرادیږي چې ننوتل دي نه قدم ایښودل نو حقیقت دلته عرفاًمهجوردی.
همدغه شان په دې حدیث کښې: ((لاتبیعو الدرهم بالدرهمین ولاالصاع بالصاعین)) چې یوه روپۍ په دوو روپو او یوه پیمانه په دوو پیمانو خرڅول منع شویدي. دپیماني حقیقي معنی متروکه ده او غرض ورځنې دیوې پیمانې او دوه پیمانو غله ده، نوکه څوک دلرګي یاد کوم بل شي یوه کونډۍ اوکاسه په دوو باندې خرڅوی سود او ربا ورته نه ویل کیږي ځکه چې له یوه لفظه څخه په یوه حا ل کښې حقیقي او مجازي دواړه معناوي نه مرادیږي.
که یولفظ مستعمل حقیقت لري اوپه مقابل کښې یې متعارف مجازنه وي موجود دټولو په اتفاق حقیقت مراد دی نه مجاز، اوکه متعارف مجازهم وي نو امام ابو حنیفه (رح) وایي چې حقیقت اولی دی او دامام محمد اوابو یوسف په نزد دمجاز په عموم باندې عمل کیږي.
ددوی اختلاف هلته معلومیږي چې یوسړی قسم یاد کړي چې زه دغه غنم نه خورم اوبیایې نیني یاڅوړي وخوری نو دامام ابو حفیفه په نزد دنینو په خوراک حانث کیږي او د ډوډۍ په خوړلو نه حانث کیږي ځکه چې نیني مستعمل حقیقت دی او ډوډۍ متعارف مجاز دی نودی حقیقت ته په مجاز باندې ترجیح ورکوي مګر د هغو دوو نورو امامانو په نزد د دواړو په خوراک دمجاز دعموم په ډو ل حانث کیږي.

## صریح او کنایه

صریح هغه لفظ دی چې معنی یې څرګنده او ښکاره وي او کنایه هغه کلمه ده چې معنایې څه قدرته پټه وي، د فقه په احکامو کښې دادوه لفظونه ډیرفرق لري، که صریح الفاظ د چاله خولې ووزي لکه طلاق او عتاق که دټوکه په قسم وي او که په زړه کښې یې کوم بل مطلب نیولی وي هم خپل کار کوي او طلاق یا عتاق واقع کیږي اونیت ته هیڅ ضرورت نشته، مګر په کنایاتو کښې نیت یا د حا ل دلالت ضروردی، که یوسړی په غلا (سرقه) یا زنا اقرارو کړي نو د دې لامله چې دا الفاظ صریح دي په حدکیږي یعنې دغلا په اقرار یې که له لسو روپو کمه نه وي لاس غوځیږي اوپه دې بل اقرار په درو کیږي یاسنګسار یږي مګر که دزنا د کلمې په عوض جماع ووایي یا دغلا اوسرقې په ځای (مثلا) و وایي چې ما د ده ما ل اخیستی دی نو حد نه لازمیږي او لاس نه غسیږي ځکه چې جماع د هسې یو ځای کیدو معنی هم لری او اخستل هم ډیر ډولونه لري او احتما ل لري چې په بیع به یې ورنه اخستی وي:

## ظاهر، نص، مفسر، محکم

هغه کلام چې مرادیې ښکاره وي اوتامل اوپوښتنې ته په کښې حاجت نه وي او له صیغې څخه مطلب اومراد معلومیږي ظاهر ورته ویل کیږي اونص هغه وي چې له ظاهر نه په کښې وضاحت زیات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک ووايي: ماته چې دکلي خلك راغله نواحمد مې وليد. دلته دکلي د خلکوراتګ يوه ظاهره خبره ده چې څه خفا نه لري، مګر داحمد ليدل نص بلل کيږي ځکه چې دلته علاوه دمعنی په ښکاره والی دکلام سوق هم د احمد دليدلو خواته دی او خبره اصلاً دهمدغه مطلب دپاره روانه شوېده. مفسر هغه کلام دی چې له نص نه هم پکښې زيات وضاحت وي او دتاويل وتخصيص احتمال پکښې هيڅ نه وي موجود،لکه دا آيت ((فسجد الملٰکة کلهم اجمعون)) په دې ايت کښې دملايکو سجده کول ظاهر بلل کيږي مګر د آدم عليه السلام تعظيم بيانول پکښې اصلي مقصد دی.

هرکله چې ((فسجد الملٰکة)) وويل شو ه دااحتما ل پيداشو چې ټولو ملايکو به سجده کړی وي اوکه ځينو؟ ځکه چې دجمع اطلاق په درې تنو او دوو باندې لا هم کله کله کيږي بل دا احتما ل هم و چې هرې ملکې به يوازې يوازې ورته سجده کړی وي که ټولو به يوځای سرپه ځمکه ايښي وي؟ چې کلهم اجمعون وويل شوه دغه احتمالات رفع شوه او کلام مفسر شو. (١)

که چيرې ددغو درې قسمو ( ظاهر، نص، مفسر ) يو له بله تعارض پيښ شي نو مفسر په نص او نص په ظاهر قوي دی لکه په دې دوو آياتو کښې:

(واحل لکم ماوراءُذالکم ان تبتغو اباموالکم) (فانکحواماطاب لکم من النسامثنی وثلث ورباع) چې په لومړی ايت کښې بې له محرماتو چې په ايت کښې دمخه ذکر شوې دي دنورو ښځو رواوالی هرڅو چې وي د عدد له تعينه ترې معلوميږي، او دوهم ايت له څلورو نه زياتې نه رواکوي، نو دلته ددواړو آياتو مقابله راغله مګر ددې لامله چې دوهم نص اولومړی ظاهردی داحکم په هغه زور ورشو او له څلورو نه تجاوزنه دی روا.

## د استثنا بحث

د دين دمجتهد ينو اکثر مذهبي اختلافات په ادبي اختلاف مبني وي چې يوله دغسې اختلافونو څخه داستثنا بحث دی، په دې بحث کښې دامام اعظم (ابو حنيفه ) او امام شافعي رحمة الله عليهما ترمنځ اختلاف دی.

امام اعظم صاحب وايي که يوسړی اقرارو کړي چې په ماباندې دفلانکي سل روپۍ دي مګر لس کمې نو داکلام په حقيقت کښې داسې دی لکه چې ده ويلي دي دفلانکي پرماباندې نوي روپۍ دي يعنی لکه چې په لسو باندې بيخي له اصله اقرار نه وي شوی اماشافعي صاحب وايي چې نه، ده يوځل په سلو اقرار کړی وروسته يې لس د جګړې اومعارضې په ډول ترينه کمې کړې.

---

(١) هرکله چې په حکم کې له مفسر نه زيات وضاحت نه وي او يوازې دهمدې له امله ورته محکم وايي چې دمنسو خيدلو احتمال پکی نشته اوحکم يې ټينګ دی او وروسته درسول(ص) له وفاته ټول مفسر ايتو نه محکم بلل کيږي ځکه چې دمنسو خيدواحتما ل رفع شو نو دمحکم له تفصيل څخه صرفنظر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اختلاف ښايي چې ځينو کسانوته لکه يوه لفظي نزاع داسې ښکاره شي مګر په شرعي احکامو او د قرآن کريم په تفسير کښې د خل اوتاثير لري.

شافعي (رح) وايي که مور استثنا داسې وګڼو لکه چې په مستثنى بيخى اقرارنه وي شوى نو دتوحيد دکلمې (لااله الا الله) معنى به داسې شي چې نور خدايان نشته يعنې دنورو خدايانو نفي به يې معنى شي او اثبات به پکښې رانه شي مګرکه مستثنى دمعارضې په ډول له مستثنى منه څخه جلاکړو معنى به يې داسې شي: نورخدايان نشته مګر يوخداى شته، نو هم به نفي شي او هم به اثبات شي. امام اعظم صاحب په ځواب کښې وايي چې په کلمه توحيد کښې مقصد دنورو خدايانو نفي ده ځکه چې دخداى په وجود خومشرکان هم قايل دي مګر شريکان ورسره پيداکوي او که مور په استثنا کښې په معارضه قايل شو چې لومړى په ټولو حکم وکړو بيا مستثنى ورځنې وباسو نوپه دى آيت کښې ((فلبث فيهم الف سنة الاخمسين عاماً)) چې خداى پاک فرمايي: نوح عليه السلام پخپل قوم کښې پنځو س کم زر کاله تيرکړه که اول په زرو کالو حکم وکړو او بيا پنځوس ترينه وباسو دخداى په کلام کښې به کذب راشي نعوذبا لله منها.

همدغه داستثنا په مساله کښې يوبل ځاى هم دا دواړه امامان اختلاف لري که يو سړى ووايي چې په ماباندې زر روپۍ داحمد دي زر د محمود دي زر د زيد دي مګر سل کمې. امام شافعي صاحب وايي چې د هريو ه څخه سل روپۍ کميږي او ټولو ته به نهو نهو سوو روپو اقرار دى يعني لکه شرط چې له هريوه معطوف سره تعلق پيداکوي دغسې استثنا هم ده. مګر امام اعظم صاحب وايي چې سل روپۍ يوازې له وروستۍ سړي څخه کميږي او شرط او استثنا يو له بله فرق لري، ځکه چې که دشرط په ډول سړى ووايي زه به يوه مياشت روژې ونيسم يوځل به پسه خيرات کړم يو ځل به قرآن ختم کړم که فلانکى راغى نو شرط له دريې واړو جملو سره تعلق پيداکوي مګر استثنا هغسې نه ده او بيل حکم لري دابحث ددوئ ترمينځ دعربي ادب په لحاظ ډير دقيق نکات لري چې نوربحث پکښې دطوالت موجب ګرځي.

## لغوي تدقيق

لغوي تدقيق هم په ديني احکامو کښې ډير تاثير کړى دى چې د نمونې په ډو ل يې داڅو مثالونه ښيو:

په دې آيت کښې ((ولاتقل لهمااف)) چې خداى پاک د مور پلار په حق کښې (اف) ويل منع کړه دلغوي تدقيق خاوندان په دې يوه شو ل چې له دې کلمې څخه غرض اذى او ضرردى، ځکه چې دامعنى په دې لغت کښې پرته ده او اهل لغت پرې پو هيږي نو ددغه لغت په تقاضا په همدغه ايت دمور و پلار وهل اورټل هم منع شو ل. ځکه چې په دې کښې اذى اوضررلا زيات دى. مګر که په کوم قوم کښې داف کلمه دخوشحالتيا لپاره استعماليږي او څه ضررپه کښې نه وي نو بيا اف ويل څه ګناه نه لري.

په عربي کښې د لحم کلمه چې په پښتو يې غوښه بولي له التحام څخه مشتقه ده څوک چې په دغه ژبه کښې دلغوي ذوق خاونددى هغه پوهيږي چې په دى کلمه کښې دشدت او قوت معنى پرته ده چې هغه معنى دکب (ماهي) په غوښه کښې نشته نوکه څوک قسم وخوري چې زه لحم (۱) نه خورم اوبيا کب وخوري قسم پرې نه اوړي ځکه چې دي ته دلغوي تدقيق په لحاظ لحم نه ويل کيږي (۲).

---

(۱) هرکله چې په پښتوکى داتدقيق ماته نه دي معلوم چې کب ته غوښه وايي که نه ، نوپه مثال کې مې عينا دلحم کلمه استعمال کړه او غوښه مې ونه بله، په دغس موارد دوکى پښتو مثالونه ځکه نشو راوړلى چې دا احتهادى مسايل دى او احتهاداوس په دينى مسايلو کې منع دى.

(۲)سره له دى چې په قرآن کرم کې کب ته لحماطريا ويل شوې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه شان که کوم عرب ووايي چې زه فاکهه نه خورم اوبيا انګور خوري، ده فاکهه چې موږ ورته ميوه وايـو نـه ده خوړلې ځکه چې په عربي کښې فاکهه دخوراک هغوشيانوته وايي چې تلذذ په کښې وي او غذانه وي نـو ددې لامله چې په انګور کښې غذائيت شته له فاکهې څخه د لغوي تحقيق په لحاظ وزي.

فقهي مسالې له ادبي مسايلو بيان او معاني يانورو ادبي علومو اوفنونو سره داسې تاوې راتاوې دي چې څوک يې يو له بله نه شي بيلولې او د همدغسې قوي ارتباط په اثرکښې ويلى شـو چې داسلامى فقهې زياته برخه له هغو ادبي تدقيقاتو راوتلې ده چې د دين امامانو او عالمانو په عربي لغت او ادب کښې کړې دي.

که څوک غواړي چې د خداى په کلام پوه شي، په فقه کښې بصيرت پيداکړي او دا حکامو فلسفه ورمعلومه شي بايد اديب شي اوپه ادبي دقايقو وپو هيږي. په کلماتو کښې عام وخاص، مشترک ومـوؤ ل، حقيقت ومجاز، صريح وکنايه وپيژني، دکلام سياق وسباق، دظهور اوخفا مراتب ورمعلوم شي. د نص په عبارت او اشارت دلالت و اقتضا پوه شي او په استعاراتو کښې بينايي پيداکړي همدغه سب دى چې له ديني پـوهې سره ادبي پوهه هم تړلې ده او يـو بينا فقيه هيڅکله له ادب او ادبي علومو نه شي مستغني کيداى، که دغه احتياج او دغه تلازم پـه تفصيل سره وښـودل شـي يـو کتاب پرې ډکيږي او په دغسې فصل يا باب کښې نه ځائيږي ځکه په همدغومره لږ بحث اکتفا کوم.

## دابن زبعرى داعتراض ځواب:

ددې آيت په استناد «انکم وماتعبدون حصب جهنم» ابن زبعرى داعتراض په ډول درسول الله صلي الله عليه وسلم په حضور کښې وويل:

چې عيسى (ع) او عزير(ع) ته خو هم عبادت شوىدى نـو دوئ بـه هم پـه اورسوځي؟ رسـول الله (ص) ورتـه پـه جـواب کښې وويل: « ما جهلک بلغة قومک »يعني ولې د خپل قوم په ژبه نه پوهيږې او د دې امتيازنه شې کولى چې (ما) په (ماتعبدون) کښې دغير ذوى العقولو لپاره استعماليږي او دذوى العقو لو لپاره په ژبه کښې (من) استعماليږي نو دلته غرض بوتان او اصنام دي.

وګورئ په دې ځاى کښې زمـوږ پيغمبرددې اعتراض ځـواب د ادب پـه اصولو او د لغت دتـدقيق پـه اسـاس څنګـه ښـه ورکړى دى اوپه دغسې ادبي دقايقو پوهيدل دقرآن په لحاظ څومره ضروردي. دغه راز ادبي پوهه سړى له ډيرو بيځايه لغزشونو او نا پوهـې څخه ژغوري.

په دې ډول ډير ادبي مسائل شته چې د ديني او شرعي احکامو په معرفت کښې ډيره اغيزه لري اومعلـوميږي چې د ډيرو ديني مسايلو نيلې اورينبې ورپورې تړلې دي.

## دادب ښه او ګاڼه

په يوه ادبي کلام اوشعرکښې دوه ډوله ښکليتوب وينو چې يو دادب په معنوي او حقيقي پيکر اوصورت کښې ځا ى لري بل يې په لباس او زيور کښې، دادوه جماله بايد يو له بله وپيژندل شي او هريو د خپل قيمت په لحاظ اهميت ولري، ځينې اشخاص ښايي چې يوازې په رنګينو الفاظو او دکلام په اقسامو باندې لـوبې کـول ادب وبولي مګر دادب بنا د معنوي اساس په لحاظ په نورو شيانو ولاړه ده چې عواطف او احساسات، خيا ل اوتمثيل يې بـولي. پخوانيو ادباؤ اود ادب مبصر ينو او منقدينو د ادب لپاره څه احکام او اصو ل مقرر کړي دي چې بايد کلمات او دکماتو ترکيب له هغو مقرراتو سره سم وي او کلام هم د دوئ دموضوعه اصولو په قرار د بيان وبديع په زيور او ګاڼه ښايسته شي.

په دې کښې هيڅ شک نشته چې دا شيان دکلام په محاسنو کښې تاثير لري او څوک چې په ادب باندې بحث کـوي او ادبي خصايص بيانوي ضرور به په دغو ادبي اصولو او احکامو هم بحث کـوي مګر حقيقي ادب داوسنـۍ پوهانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظرکښې بل شی دی او څه چې پخوانو ورته په ډیر ه اعتنا او مقصودي نظرکتل دوئ ورته د اداتـو او ادو اتـو په نظرګوري.

اوس خلک دادب ذاتیاتو او ذاتي خصایصو ته ډیر ا همیت ورکوي او پخوا دادب حلیه اوګاڼه ډیره له نظرلاندې وه، که څوک داوسني اوپخواني ادب فرق داسلوب په ضعف او متانت باندې کوي دا فرق صحیح نه دی ځکه چې په دواړو کښې ضعف او متانت پیداکولی شو. ددې دوو ډولو ادب صحیح فرق دادی چې هغه څه چې په پخوانی ادب کښې غایه وه اوس واسطه ګڼل کیږي. یعنې هغه لفظي او معنوي صنایع چې په قدیم ادب کښې دغایې په حیث لیدل کیده اوس د واسطې حیثیت لري او په ادب کښې نسبت پخواته دکایناتو او حیات خفایا او دقایق په وسیع اواصلي نظرکتل کیږي.

څه ادبي فنون او ادبي مسایل چې په بیان وبدیع اومعاني کښې ورڅخه بحث کیږي هغه ټو ل دفصاحت اوبلا غت له عنوان لاندې راځي او همدغه دوه شیه اصلي او اساسي بلل کیږي.

## فصاحت

د ظهور او ځرګندوالي په معنی دی او هره کلمه یاکلام چې مطلب او معنایې ښکاره وي فصیحه کلمه او فصیح کلام ورته ویلی شو. د دغسی کلام ویونکي ته هم فصیح ویل کیږي یعنې فصاحت یوصفت دی چې کلمه، کلام، متکلم دریواړه پرې ستایلی شو. دکلمې فصاحت دادی چې غیر مانو سه او له لغوي قیاسه مخالفه نه وي او حروف یې هم تنافر و نه لري. نوکومه کلمه چې په ژبه کښې مانوسه نه وي او استعما ل یې نادروي لکه: بژه کیدل غیر فصیحه کلمه ورته ویلی شو. همدغه شان (واخانئ) (وکانئ) د (واخلئ) او (وکړئ) په ځای ددې لامله چې لغوي او صرفي قانونه مخالفت لري غیر فصیح الفاظ دي. د حروفو تنافر اوثقل په صحیح ذوق معلومیږي او کوم معین قانون ورته نه شو ټاکلی.

د کلام فصاحت دادی چې له فصیحو کلما تو یې ترکیب راغلی وي او دغه ترکیب هم په نحوي قانون برابر وي او څه ضعف ونقصان یې په تالیف کښې نه وي یعنې لکه چې دکلمې په فصاحت کښې له صرفي او لغوي قانون سره مطابقت لازم دی دغسې په کلام کښې هم دنحوي قانون مراعات ضروردی.

که چیرې کوم کلام په ترکیب او تالیف کښې څه نقصان ولري یایې کومه کلمه په مقصود ي معنی واضح دلالت نه کوي نو په کلام کښې تعقید پیداکیږي اومعنی یې مبهمه کیږي یعنې د فصیح کلام له تعریفه وزي.

دفصیح کلام په تعریف کښې ځینې داټکی هم زیاتوي چې باید بې فایدې تکرار په کښې نه وي.

## بلاغت

دبلاغت لغوي معنی آخرو انتها ته رسیدل دي نوکه څوک پخپل عبارت او خپله وینا د خپل مقصد اومراد کنه او انتهایي حد ته ورسیږي دا هم بلاغت بلل کیږي او دادب په اصطلاح همدغه دبلاغت معنی ده.

بلاغت دکلام او متکلم صفت کیدی شي مګریوې کلمې ته بلیغه کلمه نه ویل کیږي دفصاحت اوبلاغت بل فرق دادی چې دفصاحت رجع لفظ ته ده او د بلاغت معنی ته. په هربلیغ کلام کښې ارومرو فصاحت موجود وي او بې فصا حته یوه کلام ته بلیغ نه شو ویلی مګر بلاغت له فصاحت سره نه دی تړلی اوبې بلاغته هم فصاحت موجود یدلی شي او دا دواړه د بسیط او مرکب مثا ل لري یالکه جنس او نوعه داسې دي.

د بلاغت په تعریف کښې ویل شوي دي چې بلاغت دیوه کلام مطابقت دی له مقتضای حا ل سره، یعنې هغه کلام چې له محل او موقع د مخاطب او ویونکی له حا ل سره سم او مناسب وي هغه بلیغ کلام دی. ددې لامله چې دفصاحت او بلاغت بحث دټولو ادبي فنونو په بحث کښې شامل دی اومستقل کتاب غواړي او په دې باب کښې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکل شوي هم دي. نو دغه د ادب دګانې برخه (ادبي فنون اوصنايع) پريږدو او د ادب په بنه او اصلي وجود خه خبرې کوو.
اوسني اديبان او ادب خيرونکي په ادب کښې اصلي اوجو هري شيان لکه چې د مخه وويل شو دعواطف او احساسات تخيل او تمثيل ګڼي او د شعر او ادب تاثير او اغيزه هم په همدغو شيانوکښې ګوري نه په صنايعو کښې.

## عواطف

عاطفه هغه دا خلي قوه ده چې په نفس کښې تاثير لري او نفسو نه متاثرکوي مګر دا هم بايد ووايو چې ټول هغه شيان چې په نفس اثر کوي حقيقي ادب يې نه شو بللى ځکه چې ځينې شاعران او خطيبان چې عمومي اميا ل ورمعلوم دي د عوامو په شعور لوبې کوي او د ځينو کلماتو په استعما ل لکه: وطنيت، مليت، قومي لوړتيا....د دوئ احساسات راوپښوي او متاثر کوي يې، مګر دا تاثر د آني اقتضاآتو تابع وي نو چې هغه اقتضا آت بل راز شي ددوئ وينا بيا هيڅ قيمت نه لري او فی الحاله له اعتباره لويږي، دغه راز عواطفو چې يو ټينګ حقيقي اساس نه لري د بليغ ادب مميزه نه شي کيداى نو په عواطفو کښې ځوشيه ضرور دي چې دلته پرې بحث کوو:

### دعواطفو صدق

دعاطفې صدق دادى چې عاطفه يو حقيقي اساس ولري او د شاعر دزړه غږ وي. که په يو ه شعرکښې داشی نه وي نو ساړه تشبيهات، پيکه توصيفونه، تکلفي مبالغې څه تاثير نه لري او ذوق ورځنې نفرت کوي.
بليغ اوعالي ادب لکه چې ځينې کسان ګومان کوي په وهم اوکذب نه دي بنا، بلکه دعواطفو په صدق مبني دي. که تاسې يوغزل راوا خلئ چې شاعرپه کښې دزړه په شعور د جما ل لوړومدارجو ته رسيدلی وي او دعاطفې صداقت په کښې وي او له يوه بل غزل سره يې مقايسه کړی چې په تکلف اوتصنع جوړشوی اوله مبالغو نه ډک وي رښتياني عواطف په کښې نه وي او محض لفاظي وي درته معلومه به شي چې دتاثير په لحاظ د ځمکې اواسمان قدر فرق لري.
دځينو عروضي شاعرانو ځينې اشعار چې د ادبي صنعتونو، تشبيهاتو او استعارو زور په کښې ليده شي او له مبالغو نه ډک وي هغوملي سندرو قدرته خوند اوتاثير نه لري چې بې علمه شاعرانو جوړې کړي او ډيرې ساده وي ځکه چې په دې راز سندروکښې يوه صادقه مينه، يورښتيا ني جوش او عواطف موجودوي چې په زړونو اثر کوي.

دمثا ل په ډو ل دا دو ه نمونې وګورئ:
لومړی نمونه چې له صنعت او تشبيه په کښې کار اخستل شوی:

(۱)

روغ بـــه نـــه شـــم بــــې وصـــاله راشـــه کښــــينه

شــــه خبــــر زمالــــه حالــــه راشــــه کښــــينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخر کړی دی فرار رم سرشتانو

دوحشت په خوی غزاله راشه کښینه

په مراد دعندلیب بی وفا ګله

جلوه ګرشوي پس له کاله راشه کښینه

زه آرام لکه بسمل په پرهار مومم

دخپل یارشام و هلاله راشه کښینه

نازکي دیار دطبع کړه موزونه

ای شیدا نازکخیاله راشه کښینه

دوهمه نمونه دملي سندرې یوه ټوټه:

نن زما دپاره ته امیل په غاړه راځه

له هوسه غورځوه لستوني دواړه راځه

په کالوچې ځان سنبا ل کړې زینت ناکه شې

ته له نورو نجونوزیاته ښیوه ناکه شې

دعاشقولړمانه لره قصابه شې

چې بورجل لره راځې لمنې نغاړه راځه

نن زما دپاره ته امیل په غاړه راځه

له هوسه........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

چــــې بورجـــــل لـــــره راځـــــې عـــــالم خبرکــــــه تـــــه
پــــه زلفــــانو ورتــــه پــــورې مښــــک عنبــــر کــــه تــــه
یــــو ځلــــي خوپــــه عجــــم ځــــان برابــــر کــــه تــــه
چــــې مــــوزي کــــره شــــوې بنــــده ژاړه ژاړه راځــــه
نــــن زمــــا دپــــاره تــــه امیــــل پــــه غــــاړه راځــــه
له هوسه.........................................................................................

وګورئ ! په دې دوه نمونوکښې یوه ارزو او یو هوس لیدل کیږي. په لومړی نمونه کښې شاعر خپلې معشوقې ته وایي چې راشه کښینه او په دوهمه نمونه کښې ورته وایي چې امیل په غاړه او په ډیر هوس راځه! مګر دوهم اواز چې دزړه غږ دی ډیر خوږلګي او یو بل شان اثر لري.
لومړی شاعرله خپلې ناز کخیالې کاراخلي او خپلې محبوبې ته رم سرشته غزا ل، بې وفا ګل، د خمو ابرو اوشهلاسترګو لرونکی اوشام وهلال وایي او خپله ځان ورته بسمل معرفي کوي. مګر سره له دې ټولو تشبیهاتو اواستعارو یې له دې نه چې وواېو په دې شعر کښې یو مړاوی بې روحه جما ل پروت دی نور به څه وواېو.
په دوهم شعرکښې چې یوه ریښتیانی ارزو او حقیقي عاطفه مو جوده ده او له ساختګي خبرونه کارنه دی اخستل شوی لکه هر څه چې زړه غوښتي دي هغه ویل شوي، شعریو مستي او جذابیت پیداکړی او په عواطفو کښې تحریک پیداکوي.
یوشاعر باید په دې یوه شي چې شعر اوغزل دزړه له ارزو اواحساسه داثر اقتباس کوي نه له ادبي صنایعو ، او هماغه شعرپه زړونو ډیر ه اغیزه کوي چې له زړه راوتلی وي نو باید سړی زړه دشعر ماخذ وګڼي او له احساساتو او عواطفو، قلبي تمایلاتو او ریښتیا نیو جذباتو پکښې کاراواخلي. په دې صورت کښې نو تشبیه او استعاره ، تخیل و تمثیل هم روح پیدا کوي او په ادبي صنعتونو کښې هم یو حقیقي کیف پیدا کیږي. مګرکه سړی په شعر کښې یوازې ادبي فنون استخدام کړي او بې له کوم قلبي تاثره رنګین الفاظ پیداکوي اوسره نښلوي یې، نظم به جوړشي، فن وصنعت به پکښې وي مګر دزړه متحسس کولو او دبد یعي احساساتو دتحریک قوت به پکښې نه وي.
همدغه ټکي ته ((سرفلیپ سیدنی)) پریوتی دی چې وایي: ماغوښتل چې له خپل ریښتیاني عشق نه یو غزل جوړکړم او خپل ټول رنځونه پکښې ځای کړم ګوندې زما په عزیز اشنا اثر وکړي او زړه سوی پکښې پیداکاندي، په دې فکر راپاڅیدم څه بد یعي صنایع چې ذوق خوښول هغه مې مطالعه کړه، کتابونه مې ولټول چې څه ښکلي کلمات او تعبیرات پیدا کړم کلمات په ډیر تکلیف پیداکیدل اوهره کلمه دذوق انتخاب ته اړه وه. بدیعي صنعت چې دفطرت مولود و د دقت اومطالعي په مخکښې یې ځای نه درلوده، دنورو بحرونه او اوزان او دموسیقي څپې ماته نااشنا ایسیدې چې کتل مې زما طبعي دفصیحې وینا توان نه درلود اوسرېې دعاجزی په میدان کښېښود، قلم مې په غاښ کړاو شونډې مې له قهره ووچیچلې په دغه وخت کښې راته ذوق وویل:
لیونیه خپل زړه ته رجوع وکړه او هرڅه چې وایي هغه لیکه! ددې نوموړي شاعر له وینا څخه هم پوره معلومیږي چې شعرد زړه غږ دی او بې له ضمیره بل ماخذ نه لري. که څوك وریسې کتابونه لټوي چې ښکلي کلمات او تعبیرات پیدا کړي بې له دې نه چې قلم په غاښ کړي او شونډې وچیچې نورڅه لاس ته نه ورځي. مګرکه زړه ته مراجعه وکړي او دزړه دوینا ریکارډ ثبت کړی، هغه چې هرڅه وي ساده خبرې وي که تشبیهات اواستعارې وي په دواړو حالونو کښې ورته شعرویلی شو او تاثیر پکښې وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمثا ل په ډول یو څو نور شعرونه هم وګورئ چې په ځینو کښې ادبي فنون دومره دیرنشته اویوازې دهمدې لامله چې دزړه ناري دي په زړه اثر کوي مګر ځینې نورچې څه قدر ته په تکلف او دصنعت په زور جوړشوي، ښایست لري خو دلبري او دلربایي نه لري.

لومړی قسم شعرونه:

(۱)

په سرولبانودې پېزوان وهي ټالونه کنه
زلفې جالونه کنه

سترګې دې تورې جلې     زلفې سمسورې جلې
ستاپه تندي کښې عجب خوند کاشنه خالونه کنه
زلفې جالونه کنه

وخت دبهار دی جلې     وطن ګلزار دی جلې
راځه چې دواړه دباغچووګروسیلونه کنه
زلفې جالونه کنه

بې تامې تاب وي ګله     په ماکښې آب وي ګله
ما په شاکړی ستا غمونه غرونه غرونه کنه
زلفې جالونه کنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دباره خان خبرې       دروموجان خبرې

زما دشعر نه قربان شه نور شعرونه کنه

زلفې جالونه کنه

(باره خان)

(۲)

چېې مې په زړه ځي دغم داسې داسې

ژوندون مې کړ تنګ ستاستم داسې داسې

نه پاتې مجنون، نه فرهاد نه شيرين شه

فنا شو په عشق کښې عالم داسې داسې

سيلاب مې داوښکو په مخ ځي همېش

بهيږي له سترګومې نم داسې داسې

مين دې د دريم اى ماه جبينې

کړيږم مدام خورم قسم داسې داسې

غماز مې پريباسي دغم په خندق کښې

زه غواړم مدام ستا کرم داسې داسې

نوروزه! مشال دعمل ځانته بل کړه

شته ځاى دخطر په تورتم داسې داسې

(نوروز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

مسته په خنداد جینکو په مخکښې میره ځي
خیال یې په چانشته دی دتول مالت کجیره ځي

مسته چې منګی په تندي کښېږدي نیغه نیغه ځي
مخکښې شي له نجونو ګودر غاړې ته بیدریغه ځي
واړه عاشقان یې له دنیا ځخه بې تیغه ځي
دالکه کوتره له دې تولو هواګیره ځي

مه کوه خونکارې دومره کبرپه خوارانو ته
رحم کرم بویه په بې وزلو عاشقانوته
مه اخله ازار د کباب شوو پتنګانوته
ودې سوم په شمع سرې لمبې مې دضمیره ځي

وه دنجونومیرې ته لاځومره لوی دماغ لرې
زه دبڼ طوطي یم ته دسروګلونو باغ لرې
تاته کتی نه شم په تندی کښې بل چراغ لرې
نجونې دمالت واړه داستا د وروسته ځیره ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخــــت دپســـــرلی دی وطـــــن ته‌ــــول دګــــل پـــــه خیـــــر شــــــنه

ســــــخت ســـــاعت دژمــــــي دهــــــر چالــــــه زړګـــــي هیرشــــــنه

وری چــــــــي بلبـــــــل و دګـــــــلاب پـــــــه پرخــــــــه سیرشـــــــنه

نـــــن دبــــاغ پـــــه لــــوري هغــــه ســــتا اشـــــنا خـــــانمیره ځـــــي

(خان میر)

دوهم قسم اشعارچي دصنعت په زور جوړ شوي:

(۱)

خـــط پـــه مـــخ دصـــنم راغـــی کـــه میاشـــت ګیـــر شـــو ه پـــه هالـــه کښـــي

دایـــي غـــابن پـــه خولـــه کښـــي زیـــب کاکـــه ژالـــه شـــوه پـــه لالـــه کښـــي

هســـــــي رنـــــــک ســـــــحر جـــــــادو کاپـــــــه نظـــــــر دشـــــــهلا ســــــترګو

نـــه یـــي ســـیا ل پـــه هنـــد کښـــي شـــته دی نـــه ثـــاني پـــه بنګالـــه کښـــي

لکــــــه ونښــــــلي مرغــــــی چــــــي پــــــه ســــــــت دام دســـــــلولومو

هســـــــي زه پریشـــــانو زلفـــــو، کښـــــي ایســـــتم پـــــه کشـــــاله کښـــــي

دازمالــــــه غمــــــه شــــــین زړه پکښــــــي خیــــــا ل دیــــــار دلبــــــو

هســـــي رنـــــک زیـــــب وزینـــــت کالکـــــه مـــــی پـــــه شـــــنه پیالـــــه کښـــــي

ماویـــــــل عـــــــین ګنـــــــه ګـــــــل دی دغنچـــــــي پـــــــه لمـــــــن نغښـــــــتی

کــــه مــــي کــــوت یوګــــل انــــدام ویــــروت پــــه ســــبزه دوشــــاله کښــــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرترپایه تیغ دهجرلکه نی سوری سوری کړم

ځکه یم مدام داهسې په فریادو په ناله کښې

که یار غواړې هومره ژاړه څودر ځې عبدالحمیده

داپه داچې درمونده شي په دریاب نه په ناله کښې

(حمید)

(۲)

داحسینه پري مسته په خوارا غله

که ومځکې ته سپوږمۍ دسمارا غله

په رونړتوب زما داوښو شبنم نه دی

غنچې خوله چې دګل رخ په خندارا غله

دجنون زنځیر مې پریووت وګردن ته

چې په زړه مې ستا دزلفو سودارا غله

چې دې تیغ دغمزې واچاوه وخنګ ته

زه هغه ساعت شوم پوه چې قضارا غله

په ژړا به مې لمن لنده وي ډیره

که خرګنده مې په سترګو شهارا غله

خانګل ګل دمضمون تړول ترهسې حد کړ

چې بلبله دفارسي په ژړا راغله

(خانګل)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

داپه خوب کښې رابښکاره شو ددلبر مخ
که په ابرکښې ښکاره شو دقمر مخ

چې یې ولیده داستا جوهر دغاښو
پټ له شرمه پخپل آب کښې کړ ګوهر مخ

له حیادې غټ ومخ ته کتی نه شم
کله لید په خورو سترګو شي دنمرمخ

راپه یاد چې دې دسرو شونډو خواږه کړم
ټکوم لکه مګس عبث خپل سر مخ

قلندر دمبر اهلته عاشق بوله
که یې ونیو ستابانوته دتېرمخ

(قلندر)

له دې دوه ډوله اشعارو څخه به معلومه شوې وي چې ځینې شاعران د ځینو اشعارو په جوړولو کښې لکه صنعتګران فکر کوي چې یوه کلمه له یوه ځایه بله له بل ځایه را پیداکړي او پیوندیې کاندي نو وروسته تر ډیرو لیمونو او کوشیرونو یونظم جوړشي چې تکلف اوصعنت په کښې له ورامعلوم وي او لکه چې یو شاعر وایي:

هرکه سخن رابسخن ضم کند
قطره ای ازخون جګرکم کند

دامنظومه هم په ډیرې جګرخونۍ او ډیرو فکرونو جوړه شوې وي نو دغسې شاعرته لکه چې خوا جه حافظ وایي:
صنعتګراست اما طبع روان ندارد.
صنعتګرویلی شو مګر درواني طبع خاوند یې نه شوبللی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې نورشاعران داسې وي چې دوئ ته د جما ل یا حقیقت پلوشه په یوه شي کښې ځان ښکاره کړي یایوبل نفسي اوقوي عامل پیداشي نو عواطف او احساسات په جوش راشي او بې له څه بندش او تا مله دزړه الهامات په خوله راځي، دا راز اشعار ساده وي او که رنګین په اوریدو نکو اثر کوي بلکه اثر نه چې سحر و جادو وي، دغه راز شعرونه لکه چې په ملي سندروکښې وینو د دیوان د خاوندانو په اشعارو کښې یې هم ډیرې نمونې مومو او د رحمان بابا او حمید، د خوشحا ل او عبدالقادر، علیخان او ډیرو نورو شاعرانو په دیوانو کښې ډیر سوزان اوموثر شعرونه شته او د ا څوک نه شي ویلی چې عروضي اشعار له صادقو احساساتو او عواطفو خالي دي.

په ملي سندروکښې هم کله کله ډیر تشبهات او استعارات وي مګرسړی پو هیږي چې په دې شعر کښې سلاست او رواني، جوش اومستي، عواطف او جذبات شته او د شاعر دزړه نغمه ده، د نمونې په ډو ل دا څوبیته وګورئ:

یا تېك ستاپه جبین دی — یاسترګه دسباده
یا جام دچین ماچین دی — یاسپینه خوله زیباده

**********

یا عطردګلانو — یاستا دمخ خولې دي
یاتورې دفولادو — یاسترګې دلیلې دي
یاکیف دی دشرابو — یا بنګ دبنګالی دي
یا هجر سخترین دی — یا تبه یا وبا ده

یاباغ دښکلوګلو — یا ستا ښکلی کاکل دی
آوازادی دبلبلو — یا زړه دحمید ګل دی
یا تیغ دغوځولو — یا ستا خوني چارګل دی
یادامرغ زرین دی — یا هغه محبوبا ده

( حمید ګل )

بې له دغسې ملي اشعارو چې په ملي او زانو کښې ویل شوي دي په عروضي اشعارو کښې هم ډیر ساده او بې تکلفه اشعارمومو چې دزړه له تاثیره پیداشوي او په زړه اثر کوي چې یوه نمونه یې داده:

سحر باده !دآشنا په کوځه ورشه

زما دپاره پکښې وګرځه کوترشه

لوی وکم چې وي تول ووینه په سترګو

په احوال سره دهر یوه خبرشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هريوه چې زماله حاله پو نښتيدلې
په ژړا ورته په اوښکو کښې احمرشه
که خبرې زما د پاره درته وکړې
مخ راکوزکړه زما ولوري ته چيرشه
دنسيم په رپا دې ښه نه شي رحميه
ددلدار په لور پخپله قلندر شه

(عبدالرحيم هوتک)

بله نمونه:

راشه راشه ستا تر دواړو سترګو ځارشم
هم ترمخ دې پروانه غوندې نثار شم
دزړه ولې مې په تاپسې پرې کيږي
راته وګوره قربان دې ترديدرا شم
شيريني به دې دوصل هيره نه کړم
که هرخوغربت زده او خوارو زار شم
چې دې خيال په زړه کښې رايشى دننه
اورمې واخلې په نارو اوپه کوکارشم
داختر په ورځ که مخ راته ښکاره کړې
قرباني به دې په مينه درخسار شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنتونـــــــــــه پـــــــــــه خاطرکلـــــــــــه را درومـــــــــــي

چـــــې پــــه شـــوق ګـــډ ســـتاد حســـن پـــه ګلـــزار شـــم

ستاوصـــــا ل پـــــه بخــــارا کبنــــې رحـــــيم بيامونــــد

صـــــــدقه ترېولــــــــو ځمکـــــــــو دبخـــــــار شــــــم

(عبدالرحيم هوتک)

دغه دوه ډوله شعرونه چې په يوه ډول کښې رښتياني عواطف وي اوپه بل کښې نه وي داسې مثا ل لري: لکه چې يوشاعر د خپلې محبوبې ياد خپل اولادپه مړينه کښې مرثيه جوړه کړي او يو بل شاعر دکوم لوی اومعتبر سړي په مرګ کښې دصلې او مکافات دپاره مرثيه وليکي او کوښښ وکړي چې ډير اوصاف ورپورې وتړي او ډير شعري صنعتونه پکښې ځای کاندي مګر هغه دزړه درد او رښتيا نی عاطفه چې په لومړنی مرثيه کښې وي په دې کښې نه وي. يعنې دوهمه مرثيه نورهر څه لري مګر دزړه رښتيانی تاثرنه لري او په پردي غم ژړا وي. نوداشعر هيڅکله هغسې نه شي کيدای او هغه مقام ته نه شي رسيدلی ځکه چې هغه روحي اتصا ل او رابطه چې په لومړي شعرکښې دمړي او شاعرترمينځ موجوده ده دلته نشته اوهمدغه شی حقيقي اوغير حقيقي ادب يوله بله بيلوي اوبيل بيل قيمت ورته ټاکي.

## دعواطفو تجلـــي او ظهور

کله يوشاعر د ډير ښه تامل او فکر خاوندوي مګر دانه شي کولی چې نور خلک د خپلو افکارو او تاملاتو په ښه والي او ښايست متاثر کاندي ځکه چې دده عواطف که څه هم صدق په کښې وي مګر دتجلی او ظهور درجې ته نه وي رسيدلي. دلته تريوه حده دموضوع خصوصيت هم دخل لري. ځينې موضوعات دي چې عواطف پکښې لکه داورلمبه رڼاکوي اوناري طبيعت لري لکه وطنيت، حب، غم او داسې نور...... مګر ځينې موضوعات لکه فلسفي افکاراو اجتماعي نظريات يخ او ساړه وي چې په هغه اندازه تودوالی اوحرارت پکښې نه پيداکيږي، نو مونږ دانه وايوچې يو اديب دې دغه راز موضوعات هم هغسې کړي او هغومره جذابيت اوهيجان دې پکښې پيداکاندي بلکه داوايو چې په کومه موضوع کښې چې دی داخليږي خومره چې کيدای شي خپل لوستونکي دې له تاثير لاندې راولي او پاپه دې کيږي چې خپل تاثر پوره او واضح وښودلی شي.

په همدغه برخه کښې اد يبان اوشاعران يوله بله فرق او تفاوت لري د ځينو عواطف ډير تيزاو بارزوي دځينو نه وي، په ځينو کښې شعري طبيعت قوي وي او په ځينو کښې ضعيف وي.

دوه تنه اديبان به وي چې په تاريخي رجالو کښې به په کوم يوه څه ليکي يو به يې لکه يو مورخ داسې تصوير کړي چې خپل دغه تاريخي نګارش ته به ادبي رنګ هم ورکړي، هغه بل به ورته په شعري سترګه وګوري او نفسيت به يې په نظرکښې ونيسي لکه چې په سيدجما ل الدين ډيرې مقالې او نظمونه وليکل شو ه چې په ځينو کښې ادبي خواته تمايل ليده کيږي او په ځينو کښې تاريخي خوا قوي ده او د هر چاشاعرانه مزاج په کښې خپل خصوصيت ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عواطفو ثبات او نه راالویده

ځینې لیکونکي اوشاعران وي چې عواطف یې ثبات او دوام نه لري یعنې دیوه مضمون او یوه شعر اغاز او انجام یې ډیر فرق لري او کلام یې له خپل حسن او خوږوالی څخه ابتذا ل او پیکه توب ته رالویږي. یو بیت یا یوه مصرع یې ډیر ه ښه او موثره وي مګر بل بیت اوبله مصرع یې هغسې نه وي او په ویناکښې یې د ادبي قیمت په لحاظ لوړې ژورې تیټ وپاس موجود وي دلته مقصد دانه دی چې په ویناکښې دې له سره تراخره پورې یورنګ اویواهنګ موجودوي ځکه چې په دغه ډول یو رازوالی هم دبلا غت له اصولو مخالفه خبره ده او لکه چې دکلام رالویده او ټیټوالی عیب دی یوراز والی یې هم عیب دی او ملال راولي نوپه لیکونکي لازمه ده چې له یوه صورت نه بل صورت ته انتقا ل وکړی اوپخپل کلام کښې له تفنن څخه کار واخلي داکار البته په تغزلي اشعارو کښې اسان معلومیږي ځکه چې یو خو دا رازاشعار لنډوي بل پکښې دیوه مطلب ارتباط ساتل هم لازم نه وي مګر په قصایدوکښې ګران ښکاري.

# خیا ل

وایي چې خیا ل یوه قوه ده چې غیرمریي شیان او هغه شیان چې مشاهده یې نه شو کولی زموږله نظره تیروي مګر دا تعریف پوره نه دی اودغه راز معاني په یوه منطقي تعریف کښې راوړل کیږي هم نه.

نو وروسته به یې دبحث په ضمن کښې رنګونه او ډولونه څه نه څه وښیو، خیا ل په ادب کښې یو خاص مقام لري او په عواطفو کښې ډیر تاثیر پیداکوي. که فرضاً کله موږ یو خبر واورو چې په کوم ځای کښې څه طوفان پیښ شوی چې دومره خلک مړه او دومره کورونه وران شوي دي دا خبره رابانديې دومره اثرنه کوي لکه چې دغه حادثه دکوم ادیب اوشاعر له قلمه په ادبي ډول رسم شي او له تخیل نه په کښې کارواخستل شي.

ادبي خیا ل په دري ډوله دی:

## (۱) مبتکر خیال:

دا هغه شی دی چې دانسان ادراکاتو ته یو نوی صورت ورکوي او اکثر شاعران یې دتشبیه اواستعارې په ډول پخپل کلام کښې پیداکوي لکه د حمید دابیت:

دازمالـــــه غمـــــه شـــــین زړه پکښـــــې خیـــــا ل دیـــــار دلبـــــو

هســـــې رنـــــګ زیـــــب وزینـــــت کالکـــــه مـــــې پـــــه شـــــنه پیالـــــه کښـــــې

مګر که څوک دکلام په موضوع او اسلوب کښې دتخیل له ابتکار او نویتوبه کار واخیستلی شي نسبت هغه تخیل ته چې په تشبیه اواستعاره کښې وي زیات اهمیت لري او د تخیل دغه راز بداعت ډیر لږ او نادر هم وي چې یو مثا ل یې دیوه انګلیسي شاعر یوشعر دی چې ددنیا لوی لوی خلک دسعادت په طلب کښې په دې ډول تصویروي:

یوښاردی چې دیوالونه یې ډیرجګ او د روازه یې ډیر ه وړه اوتنګه ده، داښار دسعادت ښاردی چې دجهان نوموړي او لوی لوی خلک وریسې ګرځي، دې دروازې ته یو لوی حریې سړی راځي چې ډیر هیوادونه یې فتح کړي دي اوپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو دښمنو يې برى  موندلى مګرد دې لامله چې عسکرى لباسونه او اسلحې  يې په غاړه دي په دغه دروازه نه شي ننوتلى اوحيران درېږي.
وروسته ترده يولوى عالم له خپل علمي لباس اوغټوغټو تاليفاتو سره راځي او دې هم په دغه دروازه د خپل ځان د ځاييدو امکان نهويني په ده پسې نور دسياست او ما ل خاوندان رارسيږي او هريو دلته حيران درېږي چې څه وکړم په دى حا ل کښې يوه کوچنۍ جنۍ راپيداکيږي او په ډېرې  خوشحالۍ په دغه دروازه ننوځي اوبيا څه شيبه  وروسته بيرته راوځي دوئ ته وايي چې ولې ولاړ ياست؟  دوئ وايي دراوزه وړه ده او موږ نشوننوتلى، هغه وايي کالي او اسبابونه وغورځوئ اوننوزئ! دوئ يوبل ته ګوري او مترددکيږي مګر جينۍ اصرار کوي چې هلئ  زرشئ چې ډېر عجيب ښاردى او هر څه په کښې شته په دې ډله کښې يوتن خپل کالي غورځوي اوننوځي هغه نورهم  چې ده ته ګوري  هر څه له ځانه لرې کوي او ښارته داخليږي.
ددې  شعر ښايست اوجما ل دتخيل  له ابتکاره پيداشوى او دتخيل ابتکار په اصل مضمون او د بيان په اسلوب  کښې ځاى لري.
په پښتوکښې  هم چاپه ارزو باندې څه ليکلي  چې خلاصه يې داده:
هلته لرې دغره په لمن کښې دلمر پلوشو ته څه شى ځليده، ماګومان کاوه  چې کوم ډېر قيمتي څيزدى اوله کوم معدن څخه کومه قيمت بهادانه راوتلي ده په همدې ګومان ور روان شوم او ډېر خوشحاله وم چې هلته ورسيدم ګورم چې دښيښي يوه ماته ټوټه پرته ده او نور هيڅ نشته دا وه زما ارزو او دارزو آغاز اوانجام.

دلته هم په اصل موضوع کښې  يوتخيلي ابتکار ليده شي.

## ۲) مصور خيال:

څه شى چې يواديب په سترګو ويني او پرې پوهيږي نو چې هغه د خپل خيا ل په مرسته تصوير کړي مصور خيا ل ورته وايي مثا ل يې دادى:
يوه سړى دشپې له مخې تبې کولې اوهره شپه به يې ترسبا پورې تبه وه  چا ورځنې داحوا ل پوښتنه وکړه چې تبه دې څه وخت او څنګه وي؟ ده وويل يوه حياناکه ښځه ده  چې دشپې په توره پرده کښې زيارت ته راځي اوسبا دوخته بيرته ځي.

## ۳) مفسر خيال:

کله چې کوم اديب په يوه شي کښې څه روحي يا ادبي  کيفيت  حس کړي او له مادي مشاهداتو نه پټو اومعنوي مشاهداتوته انتقا ل وکړي لکه چې ځيني ادبا د يوه سيند يا يوه غره له ليدو ځني، ځنې تاريخې واقعاتوته ولاړشي او دتيرو  حوادثو او زاړه عظمت تجليات په کښې وګوري  نو دامفسر خيا ل با له شي چې يو مثا ل يې دادى:

پــــــه لمــــــــن دتــــــــورو غرونـــــــــو دخيبــــــــــر وادي راګيــــــــره
لکــــه تـــــور ديــــــوان چــــــې کښــــيني لــــــه پـــــري نـــــه ګيـــر چـــــاپيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پت پنهان هره ذره کښې دخيبر خوني داستان دی

يو تاريخ يې په مخ ليک دی يو ياداشت دتير دوران دی

ورو په ورو دغرونو خواکښې يوکاروان روان سفر کړي

دا را ياد مې په زړګی کښې دتيرشوي دور منظر کړي

يوه ورځ به چيري دلته دمحمودکاروان روان و

ګردغبار دده دفوج به رسيدلی ترآسمان و

دتکبير نارې اوچتې اورېدلې دې جهان وې

ددې ملک ذرې ذرې به له دهشته په لړزان وې

په دې خاوره دې تيرشوي دبابر غوري فوجونه

ابدالي نادر راغلی پرې به فخر کړي داغرونه

سيدرسول (رسا)

وروسته  تردې چې د خيا ل ډولو نه څه نه څه وښود ل شوه بايد ووايو چې تخيل دشعر يوداسې عنصر او رکن دی چې که ووايو شعر په حقيقت کښې بې له تخيله بل شی نه دی هم ورسره ښايي.  همدغه تخيل دی چې جهان او د جهان هره ذره شاعرته له نور عالمه په بل رازښيي چې کله يې له نمراو سپوږمۍ سره په خبرو راولي او لکه  يې دګل په خندا، دشمع په ژړا، د نسيم په پيغامونو پوهوي،  يووخت ورته ډک سيندونه لکه  سراب بې آبه ښکاره کړي بل وخت ورته ديوه مظلوم څو قطرې اوښکې لکه يو سيلاب  داسې  وښيي.  که دغه شاعرانه خيا ل له شاعر سره  ملګرى نه وي شاعر به هم لکه نور دغه جهان ته په عادي نظرګوري او هيڅ شی به پرې دومره اثرنه کوي.  همدغه خيا ل دې چې شاعرته ډيرپټ او مرموز شيان ښکاره کوي اوهغه څه چې عوام بلکه خواص يې هم نه شي ليدای دی يې ويني او تعبيرونه ورځني کوي  همدغه تخيل دی چې شعر او فلسفه دواړه ترينه پيداکيږي او په شاعرو فيلسوف دواړو کښې ليدل کيږي.
کوم فلاسفه چې دابتکار و ايجاد قوت لري هغه اورمرو د تخيل خاوندان دي او له تخيل نه ډير کار اخلي نوويلی شو چې په نيو تن او ارسطوکښې هماغه قوي تخيل موجودو، چې په  هومر او فردوسي کښې  موجود و. مګر داستعما ل په طريقه کښې فرق ؤ  او مقصد وغرض په کښې بيل ؤ. ديوه فيلسوف  تخيل  دمسايلو په  حل کولو او تحقيق کښې سرفيږي مګر  ديو شاعر تخيل  د احساساتو او عواطفو دتحريک لپاره په کارلويږي.
ځينې محققين  وايي چې له شعري خيالاتونه فلسفه  پيداکيږي اوله فلسفې نه بيا علم  پيداشي  يعنې شاعرانه  خيالات او فلسفه اوعلم داسې مثا ل لري لکه دسپيدو چاودلو دوخت  دلمانځه  دوخت او د لمر ختو رڼا.  نو په دغه ترتيب هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعرانه خیالات چې څه قدرزیات روښانه شي فلسفه شي او په فلسفه کښې چې زیاته رڼا یې پیداشي علم شي په دې اساس سړی حکم کولی شي چې د بشر دمعرفت تاریخه له شعره څخه شروع کیږي او په علم ختمیږي.
هومر دیونان معروف شاعر په داسې عصرکښې پیداشو چې دفلسفې څه پته نه لګیده او دغه نوموړی شاعرله حکمت اوفلسفې نه دمخه دنیاته راغی مګروروسته ترده ارسطو د ده دطبع له اکتشافاتو اقتباسونه کوي او دده په کلماتو استشهادکوي. کینرو دفرانسې یولیکونکې لیکي چې د هومر په اشعاروکښې دانسان اوعالم حقیقت او د هرشي اساس موجود دی.
که سړی څه قدرته دقیق شي نودعقل اوفکر مانۍ په خیا ل ولاړه ده او خیا ل په علوموکښې زښت ډیر د خل لري، نورعلوم خولاپریږده هغه علمونه چې دعقل په نزد بیخې منلي دي لکه ریاضي او هندسه داهم دانسان له خیاله پیداشوي دي، که چیرې له یوه ریاضي دان څخه د واحد دتعریف پوښتنه وکړو چې درياضياتو ابتداو انتها ګڼل کیږي یا دهندسې دیوه عالم څخه دنقطې تعریف وغواړو چې ټول خطوط ورځنې پیدادي یقین دی چې دا دواړه شیان ((واحد- نقطه)) به یواسې شی راوښيي چې بې له خیاله به بل وجودنه لري او یو تخیلي شی به وي.
دا چې موږ یو کاڼی دحس او عقل په مرسته په تحجر اوتجمد پیژنو دا هم یوخیا ل دی دانسان تخیل دغه صورت ورکړی دی.
تخیل سره له دغو مره ا همیته چې په شعر و ادب کښې یې لري که څوک یې په تشخیص کښې وغولیږي او له او هامو نه یې فرق ونه کړی شي یایې بیځایه استعما ل کړي نو شعر بیخونده کوي او قیمت یې راټیټوي. ځینې او هام چې ځینو شاعرانو پخپل شعرکښې راوړیدي دومره بې لطفه دي چې سړی ورته شعر نشي ویلی بلکه واهمي کلام یې بللی شي لکه امرأ القیس چې پخپل یو ه شعر کښې وایي:

اقتلنی والمثرفی مضاجعی

ومسنونة زرق کانیاب اغوال

مطلب یې دادی چې رقیب به ماڅنګه مړکړي چې زما په خواکښې دیمن مشرقي توره ایښې ده او داسې نیزې راسره دي لکه دغولانو داړې. نو دلته غول او د هغه داړې یو محض وهمي شی دی چې ښا یي بې امرأ القیس بل څوک ترې ونه ویریږي. که څوک تخیل بې ځایه استعما ل کړي نوهم ښه نه ښکاریږي مثلایو شاعر دبهار اوپسرلي په صفت کښې ددې په ځای چې شنه چمنونه زیړاو سره ګلان، ابشارونه وستايي اوله تمثیل څخه کار واخلي دتخیل خواته زوروکړي او خیالي شیان تصویروي. یادیوه چاپه مدح اوستاینه کښې دهغه واقعي اوحقیقي صفات پریږدي او دتخیل په زور ورته خیالي اوصاف پیداکوي او ورپورې ترې یې چې هیڅ حقیقت او واقعیت پکښې نه وي نوداهم په شعرکښې عیب باله شي او دخیا ل بیځایه استعما ل بلل کیږي.

# تمثیل

تمثیل دې ته وایي چې شاعر او ادیب یومضمون یایو معنی داسې بیان کړي چې اصلي صورت یې سترګو ته ودریږي.
تمثیل هم په شعرکښې یو اساسی جزګڼل کیږي او زښت ډیر اهمیت لري. ارسطو وایي چې شعریه تمثیل او محاکات ولاړدی نو که په کوم کلام کښې داشی نه وی هغه شعر نه بلل کیږي د همدې لامله پخپل کتاب الشعر کښې لیکي، چې یو له هغو شیانو څخه چې انساني غرایزبلل کیږي دتقلید حسن او د تمثیل ذوق دی نو هر کله چې شعر هم یوډول نقل اوتمثیل دی دانسان په طبیعت اورمرو اثرکوي او انسان ورځنې خوند و حظ اخلي نو دارسطو په نظر یه د شعر دتاثیر سبب تمثیل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم شعر چې له تمثیل نه په کښې کاراخستل کیږي هغه دیوه رسم مثا ل لري چې باید دموضوع دقیق نکات په نظرکښې ونیو ل شي او له اصل سره مطابقت ولري.
په تمثیلي شعر کښې کله دشعر موضوع یوه منظره یا واقعه وي او کله د احساساتو او تمایلا تو تمثیل په نظرکښې وي.
په دغه وروستی حصه کښې شاعرله رسام څخه موفق دی او ځینې نفسي کیفیات شته چې په رسم کښې نه راځي او په شعرکښې راځي.
ځینې تمثیلي اشعاردي چې شاعر په کښې له تخیل څخه هم ډیر کاراخلي مګرپه ځینو کښې یوازې تمثیل وي او له تخیل نه هیڅ کارنه وي اخستل شوی.
په ځینو مواردوکښې دشعرلوی صفت همداوي چې تثمیل ښه قوي وي او حقیقت په نظرکښې ښه مجسم شي.
دتمثیل په باب کښې دشعرښه نمونه که ګورئ نو دښاغلی رښتین دباغ ننداره وګورئ چې دکابل مجلې په (۱۷٦) ګڼه کښې نشرشوی او د تمثیل پوره اقتدارپه کښې معلومیږي.
دتخیل زور او قوت که په پښتو اشعاروکښې لټوئ نو دښاغلی خادم په اشعار کښې یې ښې ښې نمونې شته. داحساساتو او عواطفو صدق او تجلي دښاغلی بینواپه «بې وزلي شرق» کښې وګورئ چې دشاعر دزړه درد او رښتیانی تاثرپه کښې له ورامعلوم دی او په همدغه شي دې شعر لوړقیمت پیداکړ ی دی.

## ددې بحث خلاصه

دشعر او ادب اصلي عناصر او اساسي اجزا دمعنویت په لحاظ دادي:
عاطفه، احساس، خیا ل، تمثیل. نوپه هرشعر کښې چې دغه شیان یا یوله دغو څخه موجودوي، هغه شعر دی اوپه انسان باندې اثرکوي په کوم شعر کښې چې دغه شیان نشته او یوازې رنګین الفاظ اوشعري صنعتونه په کښې دي هغه لکه یو تش ښایسته لستوڼی داسې وي او کوم حقیقي کیف پکښې نه لیدل کیږي او ننداره به یې کوي مګر خوک چې په شعر او ادب کښې کومه معنی لټوي هغه پرې نه قانع کیږي او یوله دغو معنوي اجزاؤ او عناصرو څخه پکښې غواړي.
دپښتو اشعارو ته چې سړی ګوري او دصنعت اومعنی په لحاظ په کښې غورکوي معلومیږي چې صنعت ته په ضمني نظر کتل شوی او د معنی لور ته زیاته توجه موجوده ده یعنې ضرورپکښې یا نور عواطف او احساسات وي یا یوعالي تخیل او لوړه مفکوره پکښې لیدل کیږي یا له ښه تمثیل او تصویر څخه پکښې کاراخستل شوی وي.
اوځینې اشعار خولا داسې وي چې دغه ټول معنوي مزایا اوښیګڼې پکښې سړی مومي اودبلیغ او عالي ادب ښې نمونې یې ګڼلی شو.(۱)

## عامیانه بلاغت

څوکاله دمخه دیوه لوی سړي په مجلس کښې دغروخلکو په پوهه اوهوښیارۍ خبرې کیدې دې سړي چې دهیواد په یوه غرنۍ حصه کښې دیوه سترحاکم په حث شپې ورځې تیرې کړې وې هغه خلک یې ډیر زیات ستایل او مکرربه یې ویل چې دوئ په خبر و له هرچانه ښه پوهیږي خوکه څوك له دوئ سره ددوئ په ژبه وغږیږي او مفاهمه ورسره وکړي.
په همدې غرو رغوکښې داسې خلق شته چې سړی یې خبروته حیران پاته کیږي او دتعلیم له خاوندانونه یې په ویناکښې څه فرق نه لیدل کیږي.

(۱) د ښاغلی (مجروح) (بینوا)، (خادم) (رښتین) اشعار ددې خبرې تصدیق په ښه شان کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابحث لا نه وقطع شوی چې دهماغه ځای خوتنه توررېري او سپين ږيري راغله او دمجلس خلک ددوئ او ضاعو او خبروته دتيربحث په اثر کښې ښه متوجه شوه چې ودرې دوئ څه وايي؟ اوڅنګه ګرېږي؟ دوئ دخپل دغه حاکم له څه مودې مفارفت څخه چې درنځورتيا په اثرکښې پيښ شوی و خپل خپګان ښکاره کړ او بيايې خواهش وکړچې که صحت يې ښه وي بيرته ورشي او ددوئ اداره پخپل لاس کښې ونيسي مګر دامقصد يې په دې ډول اداکړ چې زموږ په ملک کښې مشهوره ده چې په يوه غره کښې که تر (۷) کالو پورې دسړي غږ وانه وريدل شي دهغه غره ماران ښاماران کيږي او پخپل مينځ کښې يو له بله سره خوري نوکه ستاسې غږ هلته نه وي له موږ نه بل شی جوړيږي او يو د بل غوښې خورو.

دې خبرې په مااثر وکړاو زه يې دې لورې ته ملتف کړم چې عام خلک اوهغه کسان چې په تورو ټکو نه پوهيږي او دفصاحت وبلاغت نوم يې هم نه دي اوريدلي پخپله وينا کښې دبلاغت خاوندان دي او په خبروکښې يې شعري او ادبي کيف ليده شي.

وګورئ دغه سړی له يوه ادبي منطق او تمثيل اوتشبيه نه څومره ښه کار واخيست اوخپل مقصد اومطلب يې دبلاغت له اصولو سره سم داسې اداکړ چې دخپل مراد کنه او انتهايي حد ته ورسيده چې ديوه مقصد همدغه راز بيان بلاغت اوويونکی ته يې بليغ ويل کيږي.

که څوک د پښتنو په جرګو اومرکوکښې ناست وي او ددوئ خبرې يې اوريدلی وي هغه ته به په عاميانه محاوروکښې دغسې ډيرې نمونې يادې وي او دابه ورته معلومه وي چې پښتانه پخپلو مرکوکښې هروخت له دغسې ښوښو تمثيلو اوملي رواياتو کاراخلي، دخپل مقصد دپاره لومړی يوموافق تمثيل اوادبي استدلال پيداکوي بيا خپله خبره پرې سپروي. ددوئ دبلاغت زور او قوت په همدغو تمثيلو او رواياتو يا متلونو کښې وي او تشبيهات او استعارې يې هم خوراقوي وي، هغه څوک چې په مرکو کښې دخبروحق لري اودملي مجالسو خطيبان او بلغا بلل کيږي دخپل مقصدله شروع نه دمخه يوحکايت کوي ياله ملي رواياتو او عنعناتو څخه دخپل بيان دپاره يو ښه تمهيد پيداکوي وروسته بياخپل مقصدته راځي اوخپل مطلب بيانوي نوپه دې صورت کښې ددوئ وينا دومره قوت مومي چې څوک ورځنې انکارنشي کولی اوهر څوک يې په معقوليت باورکوي که څوک په دې مجلس کښې ددوئ دخبرې ترديد کوي او مخالفه نظريه قايموي هغه مجبور دی چې دده دمدعا په خلاف به يو قوی تمهيد اوحکايت پيداکوي اوخپله خبره به قوي ښيي، په دې وخت کښې نويوه ادبي مبارزه شروع او دميدان وړلو دپاره زيات فصاحت او بلاغت په کاردی. مګر هغه بلاغت چې عوام پرې پوهيږي اوپه عاميانه ادب کښې ځای لري . په همدغه قوت دمرکو مشران اووکيلان غټې غټې خبرې اواروي او هرڅوک پخپل قوي منطق او ادبي استدلال قانع کوي. دپښتنو دمشرۍ راز هم په همدې کښې دی چې سړی بايد له ملي عنعاتو او رواياتو ښه خبر وي هغه خبرې چې دوی پرې قانع کيږي او هغه استدلال چې ددوی په افکارو او روحياتو قوي اثرلري ځانته معلوم کاندي دغه راز خبرې ښايي چې موږ اوتاسې ته هيڅ ښکاره شي مګر په عامه طبقه ډير اثر کوي. په ځينو مجالسو کښې چې زه ناست وم او هلته دپښتنو دروغې داصولو پوهان راټول شوي وو. ډير ځله مې په داسې مواردو کښې چې خلک به يې دخپلو عزيزانو احترام ته رابلل او دابه يې ورته ويل چې خپل کام او خپلو عزيزانوته په سپکه مه ګورئ .

يو د بل عذر قبلوئ او ننواتو ته په درنه سترګه ګورئ. د يوه منلي او مسلم دليل په ډول به يې ويل چې لوخې د خپل کام سپکه غوښته سر يې په درياب کښې وچ شو. دې خبرې به خلک ډير متحسس کړه او زيات تاثيربه يې وکړ، زه ددې خبرې په سر و بر نه يم خبر چې عنعنوي اصل اواساس به يې څه وي؟ مګرلو خې چې ګورم رښتيا په اوبو کښې ولاړې وي او سرونه يې وچ وي. نوداخبرې که څه هم څه اصل او حقيقت ونلري تاثير خولري او له يوې ډيرې صحيح فلسفې نه په عوامو باندې زيات اثرکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک غواړي چې خپل مخاطب او اوریدونکی دخپلو خبروله تاثیر لاندې راولي نوبایدله هغه سره داسې وغږیږي چې منطق اوادب یې په هغه تاثیروکړي، تشبیهات او استعارات تخیل او تصویر، استدلال اواستشهاد یې دهغه له فکراو ذوق سره سم وي او په نظرکښې یې له مسلماتو څخه وي.

زموږ ادبا اوشعرا باید دې خواته ملتفت وي اوپه خپل شعر اوادب کښې له عامیانه بلاغت نه چې دعوامو په وېناؤ، متلونو، روایاتو،قصو اوافسانو کښې ځای لري پوره کارواخلي، په هغو تشبیهاتو او استعارو خپل کلام رنګین کړي چې دوئ ورسره اشنادي اوپرې پوهیږي چې زموږ ادب هم ملي رنګ پیداکړي او دملت په ذوق برابر شي.

دپښتولنډۍ او چاربیتي چې په هر چاښې لګیږي او عمومي مقبولیت لري یو سبب یې همدغه دی چې له عامیانه بلاغت نه پکښې کار اخستلی شوی او کلمات وتعبیرات داسې دي چې عام خلق پرې ښه پوهیدلی شي او هیڅ نا اشنایي پکښې نه ګوري وینا یې هم دحا ل له مقضا سره سمه وي او له حیات سره پوره تطبیق لري. دمثا ل په ډول به یوڅولنډۍ هم راوړو.

## دپښتو څو لنډۍ

کله چې موږ کو چیاني لنډۍ او دکو چیانو ټپې اورو پوهیږو چې دالنډۍ دکوچیانو له حا ل او حیات سره څومره اتصال لري، او ددوی حیاتي وضعیت څنګه ښه تصویروي لکه دالنډۍ:

اوښانو بیا غاړې کړې کړې

چې پرې سپرې دي سپینې خولې زیږ پیزوانونه

که چاکله دکوچیانو رواني کډې لیدلي وي چې په اوښانو باندې پښتنې پیغلې سپرې وي او اوښان یو خوابله خواغاړې کړوي او ترشا ګوري هغه ددې لنډۍ په بلاغتي کیف ښه پوهیدلی شي چې دلته ویونکی څه شاعرانه او ساحرانه مهارت خرڅ کړی دی چې له یوې خوادغه منظره اووضعیت ډیرښه تمثیلوي او له بلې خوادې خبرې ته هم تلمیح او اشارت کوي چې اوښان هم ددغو پیغلو دښایست او جما ل احساس کوي او ددوی نندارو ته مخ راګرځوي.

په دغسې مواردو کښې چې مطلب ددغو پیغلوستاینه ده ښایي چې ډیر تعبیرات پیداشي مګر هر تعبیر به دکوچیانو له حال او حیات سره دغومره موافق نه وي او نه به په کښې دغومره بلاغت موجودوي.

په یوه بله لنډۍ کښې یوه کوچۍ پیغله خپل اشناته وایي:

تردې خروړی سپی راتیرشه

تردې ملالې خولې به زه درتیره شمه

په دې لنډۍ کښې یوشرط اوتعلیق لیدل کیږي چې باید مین یې پر ځای کړي او دملالې خولې په مقابل کښې یوګران کارقبو ل کړي چې هغه له خروړی سپي څخه تیریدل دي. په دې ځای کښې البته ډیر مشکل شرطونه پیداکیده چې باید په مین تحمیل شوی وای مګر دکوچیانو له حا ل او ژوند سره به یې دغومره موافقت نه درلود لکه چې داشرط یې لري.

یوه کوچۍ پیغله باید هر څوک له خپل خروړی سپني څخه وډار کړي او خپل سپی لکه لیوه یازمری خلکوته وښیي دلته ټوپک یا توپونه یا ډول له حیات سره مناسبت اوموافقت نلري او نه دغه ادبي لطف پکښې شته چې دخروړي سپي په لفظ کښې موجود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادهمدغه لفظ اثردی چې ځینې دتصوف خاوندان له دې لنډۍ نه دحقیقت په نامه یوه بله معنی اخلي او وایي چې خوروړی سپی نفس دی اوله دې نه تیریدل خدای ته رسیدل دي. که دلته توپ او توپخانې یادې شوې وای ددغسې تاویل دپاره به هم څه مجا ل نه ؤ او دومره ظرفیت په دې لندۍ کې نه پیداکیده.
ددې لنډۍ په ځواب کښې یو د تورې خاوند او توریالی مین خپلې معشوقې ته وایي:

دسپینې خولې تن راته کیده
که دچړو په څوکولاروي دربه شمه

دا هم یوبلیغ تعبیر دی او له ده سره مناسب ایسي ځکه چې د چړو په څوکو تیریدل انتهایي مشکلات قبلول دي اوسړی پوهیږي چې ددغسې سختې لارې یون دومره ګران دی چې له خوروړو سپو تیریدل ورته هیڅ دي او څوک چې داقبلوي هغه په خوروړو سپیو هم نه ایساریږي.
که سړی په شعر و ادب کښې ښه غور وکړي ددې فن تولهٔ ساحري په یوه ښه او بلیغ تعبیر کښې مضمره ده که څوک د خپل مقصد لپاره یو قوي اولطیف تعبیر وموميي چې مبتذل اوپیکه نه وي دې سړي په یقین سره د شعر او ادب حق په ځای کړی او دبلاغت سکه یې قایمه کړې ده. په دې تعبیر کښې دانه ده لازمه چې اورمرو به په کښې اغراق اومبالغه وي بلکه لازمه ده چې لطف اوملاحت او حسن به په کښې وي اویو نوی تعبیراو ښه تصویربه ورته ویل کیږي لکه په دې لنډۍ کښې:

مخ په مړوند کله پټیږي
ظالمه یاره سلامي ولاړه یمه

وګوره دلته یوازې یوښه تصویر اوښه تعبیر په سړي اثرکوي. داد حیاناکو پیغلو عادت دی چې منګی به یې په اوږه وي او ګودرله به ځي نو چې څوک نارینه په مخه ورشي خپل مړوند مخې ته نیسي او دریږي په دې وضعیت ښایي چې کوم اشنا متاثر شوی وي اوځه ګله یې ورلیږلی وي نو دا ورته وایي چې زه تا ته سلامي ولاړه یم هسې نه چې خپل مخ پټوم ځکه چې مخ په مړوند نه پټیږي رښتیا وایي لمرچاپه ګته نه دی پټ کړی دابه دسلامي په وضعیت ولاړه وي.
په یوه بله لنډۍ کښې یومین د خپلې لیلیٰ په پوزه سره نتکۍ ګوري اوسپینې خولې ته یې زړه کیږي نو خپله ارزو په دې ډو ل ورته څرګندوي:

ستاپه نتکۍ کښې شیطان ناست دی
هره شیبه مې ستا خولګۍ ته لمسوینه

دا خو معلومه خبره ده چې دی په چل کښې ورځنې خوله غواړي مګرکه ورته ووایي چې خوله راکړه یامې ستا خولي ته ډیر زړه کیږي دابه یوه بې لطفه غوښتنه وي اوشعر به نه وي نو دا د شاعر کار دی چې په دې خبره کښې خوند پیداکړي او شعر ورځنې جوړ کاندي نو اول نتکۍ ستایي بیا پکښې شیطان کښینوي، وروسته تردې نو ورته وایي چې ستاله خپله کوره دي چې مایه کراره نه پریږدي او ستا خولګۍ ته مې لمسوي ښایي چې خبرې دشعري سحرپه مرسته په هغې اثرکړی وي او هغې هم ویلې وي:
دسپینې خولې واک مې درکړی....................

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتوکښې اکثره لنډۍ داسې وي چې دغه راز نازکي او باريکي هم پکښې نه وي اونه له دغسې پيرايونه پکښې کاراخستل شوی وي مګرپه زړه خوږې لګي اوښه لطف لري لکه چې يو مين خپلې مينې ته وايي:

که دنيايي شرمونه نه وای
تابه منګی ووړ زه به تش درسره تلمه

دالنډۍ خومره ساده ده چې هيڅ صنعت هيڅ تخيل پکښې نشته او بې له تشو تللو هغه هم هله چې دنيا يې شرم نه وای نور څه نه لري مګر مينه او محبت پکښې ځای لري او دعاطفې ترجماني کوي، نو دمحبت په لاره او دمينې دپاره تش تګ بلکه دتګ ارزو هم لطف لري اوپه زړه اثرکوي.

په يوه بله لنډۍ کښې يو عاشق خپلې معشوقې ته پيغام استوي چې زه ستاد خولګۍ په اميد درځم اوپه هرقيمت چې وي غوارم يې نووايې:

که مې اجل ستا په خولګۍ وي
سبا کفن په سرتړم تاله درځمه

په دې لنډۍ کښې هم دتشبيهاتو اونازکخيالۍ څه رنګ نشته مګررنګ يې څه کوې خوند يې ګوره! دخپلې محبوبې بورجل ته به ډير خلک په مختلفولارو تللي وي خوپه دغه ډول چې ددې لنډۍ خاوند اوويونکۍ ورځي بل څوک به نه وي ورغلی. هرڅوک چې چيرته ځي اوسفر کوي نودلارې توښه اودسفر سامان له ځانه سره اخلي مګردی کفن په سرتړي او روانيږي دا تګ شاعرانه تګ دی چې بې له شاعره دبل چاورته نه پام کيږي او ده به هم له پتنګه زده کړی وي.

دمينې او محبت خبرې که هر څومره ساده او بې ساخته وي هغومره ښې وي په يوه لنډۍ کښې يومين خپلې مينې ته دکور ورانۍ ښيراکوي او ورته وايي:

کور دې نژدې ديدن دې لرې
ديوا ل دې ړنګ شه چې وريادې ووينمه

مګرسړی پوهيږي چې دا ښيرا له مينې اومحبته دی اوپه دې ښيراو کښې عشق او محبت مضمر دی داهم هماغه شان ښيرادی لکه چې يوه مينه خپل مين ته وايي:

ټوټې ټوټې په تورو راشې
چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه

نوکوم زخمونه چې دغسې ملهم پيداکوي سړی به پرې ولې نه خوشحاليږي او ولې به دغسې ښې دعا ګانې ښيرابولي؟ رښتيا هم داده چې دمينې اومحبت خبرې ډيرې خوږې دي که دا خبره هرڅومره مکرره شي بد مه وړئ ځکه چې مينه په همدغو مکررو توصيفونو ارزي.

په کومه خبره کښې چې د مينې او محبت جلوه وي هغه که په هرعبارت وي شعر دی او همدغسې خبروته شعر ويل کيږي.

يوه معشوقه بې له کومې تشبيه اواستعارې خپل مين ته وايي:

سترګې مې تاته تورولې
چې ته رانغلې په سالو يې پاکومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوک چې په مينه اومحبت پوهيزي او دشعر حقيقت او هويت ته رسيدلی وي هغه به دا لنډۍ هيڅکله هيره نه کړي او دلوړو اشعارو نمونه به يې وګڼي، ځکه چې دعشق او محبت په عالم کښې چاته سترګې تورول اود هغه دنه راتلـو په سبب يې بيرته پاکول ډيرلوړ قيمت لري.

يو بل ځای يو ارمانجن مين وايي:

زما جانان دې راسره وي

په مادې تيرې دميرو را چلوينه

سړی چې ګوري ډير خلک وينې چې دپيسو دپاره تيرې چلوي او څوک ورته هيڅ نه ملتفت کيږي مګر يومين چې د خپل جانان دوصا ل په مقابل کښې تيرو چلولو ته تن ږدي، دده باراوړې تيرې دعشق اوشعر په مانۍ کښې لکيږي او يو يادګار ورځنې پاته کيږي.

**«پای»**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**